کابل

د پښتو ټولنې میاشتنۍ خپرونه

۲

پرله پسې گڼه ٤٧٥

رحمان بابا

هر ساعت زما د غوږ په تاوولو
د فلك لاسو نه شنه شوه تر څنګلو

هو مره غم د بیلتانه را باندی راغی — چه حساب یې نه په خوله شی نه په کښلو
هغه سترګی چه نرګس وهم بادام دی — تېرې توری دی زما په قتلولو
هغه شونډی چه شیرینی دی تر قندو — ما هیڅ فیض ځینی بیا نه موندبی ښکنځلو
دا کاږه کاږه باڼه او کښی وروځی — نور څه نه کا بی کښ و کښ و وهلو
په شپه نوکی د عاشق په وینو سری کا — سبا پوری کا نکریزی په منګلو
داز ما د قاتل لاس دی نه پوهیږم — که تر باغ وتلی ښاخ دی د سرو ګلو
دریغه مرګ ئی په دنیا کښی نیمه خواشوای — ښایسته غنچې یې پری ایستی د ګلو

هسی بند شه په کمند د تورو زلفو
چه حیران یم «د رحمان» په خلاصولو

۲۹ کال | ثور ۱۳۳۸ | اپریل - مي ۱۹۵۹
۳۲ګڼه

کابل

ادبي ، تاريخي او اجتماعي

د امتياز خاونده : پښتو ټولنه
د پښتو ټولنې مشر : ګل پاچا الفت
مسئول مدير : محمد حسن کاکړ
د تيليفون نمبر: ۲۱۲۹۱
پته : نادر پښتون واټ،
د پل خشتي ترڅنګه
کابل ، افغانستان

د اشتراک څرنګوالی

په کابل کښې	۳۲ افغانۍ
دهيواد په نورو برخو کښې	۶ افغانۍ
دمعارف زده کوونکو ته نيمه بيه	
الف : کابل	۱۶ افغانۍ
ب : اطراف	۱۸ افغانۍ

د مضامینو فهرست

شمېر	مضمون	لیکونکی یا مترجم	مخ
۱	دنړۍ د الفبایی لیکونو ..	ښاغلی تېږی	۱
۲	افتتاحیه وینا	« رشاد	۵
۳	شاعر	« الفت	۶
٤	ښه شعر	« بختانی	۹
۵	لوړ غرونه اولوړ فکرونه	« خادم	۱۰
٦	رحمان بابا نه یو.. ..	« صدیقی	۱۱
۷	گل او گلونه	« یکتیانی	۱۲
۸	دچا پسرلی ؟	« جلالی	۱۳
۹	درحمان بابا به یاد	« شینواری	۱۵
۱۰	نه شاگرد یم نه استاذ	« زمریالی	۱۷
۱۱	رحمان بابا	« نژند	۱۸
۱۲	درحمان بابا پرقبر	« رشاد	۱۹
۱۳	عبدالرحمن.....	« بیما	۲۲
۱٤	نوی زړه	« محب	۲۳
۱۵	د کوکچی په غاړه	« لایق	۲٤
۱٦	پښتنو زلمیو !	« سلیمی	۲٦
۱۷	افسوس	« ننگرهاری	۲۷
۱۸	درحمان بابا شعر	« حافظ	۲۸
۱۹	ستا په یاد رحمان بابا!	« سابی	۲۹
۲۰	رحمان بابا	« بروال	۳۰
۲۱	دقام شاعر نه	« جلالی	۳۱
۲۲	رحمان بابا	« زیار	۳۳
۲۳	رحمان بابا نه	« صمیم الله	۳۳
۲٤	نظر له ستر گو...	« پسرلی	۳٤
۲۵	دمشری محرکات	« میرا کبر	۳٦
۲٦	بین المللی قانون....	« کامل	٤۱
۲۷	د هند اجتماعی حال	« کاکړ	٤۵
۲۸	سوچه پنمی	« خیبری	۵۲

ښاغلي حبيب الله (تېزي)

دنړۍ دالفبايي ليکونو مور او فنيقيان

په دمخه ګڼه کښې مادليك دپيدايښت په برخه اودې برخه کښې خبرې وکړې چه ليك چيرته څنګه او په څه ډول مينځ ته راغی دادی اوس غواړم چه دنړۍ دپوهانو دډيرو تازه څيړنو او پلټنو له مخې ددې پوښتنې ځواب ووايم چه دنړۍ الفبايي ليك دلومړی پلا دپاره چيرته او دکوم قوم له خوا جوړ شو؟ دنولسمې پيړۍ تر سره پورې په دې برخه کښې دپوهانو داګمان ؤ چه دنړۍ ليکونه له درو ليکونو يعنی «چينی ليك، هندي ليك او سامی ليك» څخه راوتلي دي. دوی داهم ويل چه دمصر لرغونی ليك هيروغليف او ميخی ليك له کوم بل اره دې چه دلرغونو ژبو نه را پاتی دي. (۱)

اما وروسته له دې مو دې نه دنو يو څيړنو په اساس پوهان په دی وګروهيدل چه دنړۍ دمخ ننني واړه روانی الفبا ګانی «پرته دچينی ليك دسيمی نه» چه دنړۍ دمخ دبيلو بيلو متمدونو قومونو ژبی پرې ليکلې کيږی له يوی سيمی او الفبا نه راوتلی دی چه الفبا فنيقی او سيمه دتولو پوهانو په اتفاق سوريه ده. يعنی دسوريی دمځکی هغه سيمه چه دسپين بحر پرغاړه پرته ده او يونانيانو ددغی سيمی خلك چه له اره کنعانيان وود فونيکس (فنيقی) په نامه يا د کړې دي. (۲)

پوهان داسيايي الفبا داختراع دتاريخ په برخه کښې وايي چه ددغی الفبا اختراع په يقين سره (۱۰۰۰ ق م) او يا ۱۵۰۰ ق م) ته رسی. نو له دې امله حکم کوی چه که فنيقی الفبا لومړنۍ الفبا نه وي نو هغه الفبا خوده چه په نورو باندې غښتل شوی او ديولسمی ق.م پيړۍ په پای کښې سره خپره شوی او بيا وروسته دډير زيات بدلون نه دنړۍ دننيو الفبا ګانو په څير ترمونږ پورې را رسيدلی ده (۳) مګر دغه ډله پوهان هم داخبره ديوی خبری په توګه کوی. که نه وی دوی هم په زغرده سره دفنيقی الفبا اوليت او قدامت منی او وايي:

«هغه ستر خدمت چه فنقيانو دبشر دپاره کړی دی او بايد چه اهميت يې هيڅکله هم هيرنه شی هغه دالفبا اختراع ده. (٤)

(۱) سبك شناسی لومړی ټوك مخ (۵۷)

(۲) فرهنګ ايران باستان مخ (۱۳۲) (۱۳۳)

(۳) دعلم تاريخ، مخ (۱۱۵)

(٤) دعلم تاريخ مخ (۱٤)

په دی لړ کښې یوه بله عقیده هم میخ ته راغلې او هغه داده چه وایی فنیقی لیك دلرغونی مصري لیك څخه راوتلی دې. مګر هغه وخت چه مصری لیك په ورو ورو سره دانحوریز لیك نه راوتلی او الفبایی بڼې ته رارسیدلی دی.

دوی وایی فنیقیانو دمصری لیك هغه دوه ویشت نښې چه هره نښه یې دیوه مخرج نښه وه واخستې او خپله الفبایی په داسې یوه ترتیب ورڅخه جوړه کړه چه روسته دنړۍ دالفباګانو مور شو. دې عقیدې ترڅنګه بیا داعقیده هم شته چه فنیقی لیك دمیخی لیك څخه جوړشوی دی. وایې چه فنیقیانو میخی لیك کړه کړی او الفبایی بڼې ته یې ارسولی دی (٥)

مګر نننۍ پوهان دنه یو تحقیقاتو او دلائلو له مخې داخبره هم نړ یدوی چه فنیقی الفبادی دمصری ساسو مری لیك څخه راوتلی وی.

دوی وایی داپوښتنه چه ایا مصری لیك د فنیقی الفبا اساس ؤاو که بابلی لیك یا داد واره لیکونه ترته بیخا بهده څکه دفنیقی الفبادهمو لرغونو اثارو له مخې چه مونږ نه رسیدلی دی دنو هری الفبا څرنګوالی په دې برخه کښې دورا یه څرګند یږی. داسې چه دغه الفبا مصری او بابلی اشکالو نه ورته نښې هیڅ نه لري یا په بله ژبه دنوموړي الفبا په توروکښې داپوښ توري هیڅ هم نه ښکاری چه دې دمصریانو او سومریانو دلیك اشکال ر ته زړه کړی.

دغه ډول داتوری داسې توري هم نه دی چه دې دکوم شی یا کومې څیرې ی او یا دژوندانه دلوازمو څیره وکښې شی. بلکه پخپله اصله نښه لیکل شوی دی او په ښکاره ډول زړه دهیڅ شی رسم هم نه بر ښی.

داتوري داسې نښې نه دی لکه میخی لیك چه له اره دسومریانو سره یو ډول څیري وي. مګر وروسته بیا ورو ورو ساده شول او دمیخ بڼې ته را ورسیدل. (١)

یوه بله عقیده هم شته چه وایی فنیقی او عبری دواړه لیکو نه له وه بل لیك څخه چه نمرنه یې د «کریت» په نږدو کښې پیدا شوی دهراوتلی دی. (٢) مګر داخبره هم پوهان نه تائیدوی بلکه نه منلو نه بې تل سر خو خوی.

«جورج سارتون» وایی: کلود شفر د «شمرا» دراس په حفریاتو کښې یوه او کربتی الفبا پیدا کړی ده چه بنایی

(٥) سبك شناسی توك ١ مخ (٥٧)

(١) فرهنګ ایران باستان مخ (١٢٨) ١٤٠

(٢) سبك شناس جلد اول مخ ٥٧

ترفنيقي الفبا دې لرغونی وی.(۳) مگر سره له دی هم داڅر گنده ده چه دغه دوه الفبا گانی يوه دبلی سره ډير نزدی اړيکی لری او دالفبا دتوريو ترتيب پکښی پوره سره ورته دی داترتيب له دری زره کاله نه را په دی خوا بې بدلونه پاتې دی. يوازی دسيسرو په وخت کښی داتورې دالفبا پای ته ورو ړل شوی دی.(٤)

دغه دول پوهان هر يو ځانته عقيده لری چه دهر يوه عقيده په يو اړدلانلو باندی استواره ده نه په هغو وچو کنکو کيسو باندې چه ټولی له خپلې گيډی او خياله دخلکو دمشغولا دپاره جوړی شوی دی خوددی ټولو خبرو به پای کښی د نتيجی په توگه بايد دا ووايم چه ترننه پوری دنړۍ پوهان دخپلو پلټنو او څېړنو له مخی په اکثريت سره دا خبره منی چه فنيقی الفبا دنړۍ دننيو الفبايی ليکونو مور او دلرغونی نړۍ ترټولو نه ساده او روانه الفبا ده.

يعنی دنړۍ نور الفبايی ليکونه لکه عبری سريانی، نبطی، عربی، مسند، ارامی، پهلوی يونانی، لاتينی، سنسکريت، سغدې (۱) او

(۳) وگورئی دهمدی کتاب (۹) مخ

(٤) دعلم تاريخ مخ ۱۱٦

(۱) سغد يوه سيمه ده په منځنۍ آسيا کښی. دانوم په زړهٔ پارسو کښی په وروستۍ اوستا کښی په يونانی کښی (خلک يی) اوهيوادبی چه په پښتو کښی سغد يا نه «سغد» «يا نه ظرفی لاحقه» کيږی راغلی دی.

«انسايکلو پيډيا آف اسلام ټوک ٤ مخ ٤٧٣ ليکونکی: بارتولډ.»

سغدی ژبه د ارپايی ژبو يوه څانگه ده چه په لرغونی سمرقند کښی ويل کيدله. اماسغدی ليک يادوو بڼو موږ ته رارسيدلی دی چه نه ديوه مهال بريښی اونه په يوه بڼه. اسناد يی ډير زيات په متاخر ليک ليکل شوی او دا هغه دی چه په بو دايی متونو کښی ـ چه په هغو پټارو باندې چه په منځنی اسيا په تيره بياتوين هوانگ کښی ليکل شودی ـ ترڅېړنی او پلټنی لاندی نيول شوی. دهغو ډيرو لرغونو ليکونو څخه چه سراشتين دچين شاوخواته په يوه بنگله کښی موندلی دی مونږ ته څه نه دی رسيدلی ددغو ليکونو نيټه دميلادی تاريخ ابتداء ده خو بو دايی متون دلرغون پيژندنی او تاريخی قرائنو سره سم له اومې نه ترنهمی ميلادی پيړۍ پورې ليکل شوی دی دسغدی ليک مورشمالی سامی ليک دی چه پالميری نبطی او نور ليکونو په همدی لړ کښی راځی.

«دمعين مقدمه مخ شلم»

ایغوری (۱) او حبشی واړه د همدې الفبا څخه راوتلی دي (۲)

له همدې امله دادې دمخه تردی څخه چه دفنیقی الفبا په برخه کښی څه ووایو باید دنومړي الفباد جوړو ونکو په باره کښی په لږ څه تفصیل سره وغږ یږو. ځکه ددې خبرې داوریدلو یا لوستلو سره سم چه: فنیقی الفبا دنړۍ دټولو الفبایی لیکونو مورده ښایی داپو ښتنه پیدا شی چه آیا داخلك څوك اود کوم ځای اوسید ونکی وو؟ یا داچه فنیقی الفبا به د څه وخت الفباوه؟ فنیقیه او فنیقیان: فنیقیان دیهودانو لرغونی ګاونډیان هغه سامی قوم دې چه

«۱» ایغوریان هغه خلك دی چه یی داتمی میلادی پیړۍ په شاوخوا کښی به منځنی آسیا کښی یو ډیر ستر سلطنت تاسیس کړی واودخانانو له ډلی څخه یی یوستر خان د«مانی» په ګروهه وګروهیداو ځان یی دمانی مظهر و باله. ایغوری یالرغونی ترکی دهمدی قوم ژبه ده چه مانویانو دپورته تاریخ سره سم خپل آثار له سغدی ژبی نه ورباندی ترجمه کړه د هغو لرغونو ژبو دلیکونو په لړ کښی چه په ترخان کښی پیداشوی دی دایغوری ژبی یو کتاب هم په لاس راغلی او په ایغوری لیار لیکل شوی دی.

«دګریستن سن-ایران دساسانیانو په مهال کښی «مخ ۱۳۰-۱۳۱»

«۲» سبك شناسی توك ۱ مخ ۵۷

دډیرې لرغونې زمانی نه دمدیترانی دبحیری په غاړه میشت شوې وو.(۱)

دوې له اره کنعانیان دې چه یونانیانو دفنیقیانو او «هومر» دیونان نامتو شاعر ددوې دیوه ستر ښار په نسبت دصدائیانو په نامه یاد کړی (۲) هیواد یې «فنیقیه» دشام یوه څنډه ده چه دفلسطین دساحل په غاړه او ورپسی پرته ده حد یې د «کارمل» دغاړه دپوزې نه ور پورته دې

دامځکه یوه ننګه نړۍ پټاره ده چه دلیبان په لړور تکیه شوې ده او اصل اوسید ونکی یې چاته نه دی څرګند چه څوك وو. یواځی دومره پوهیږو چه فنیقیان دیهودانو په څیر دخپلو ډیرو لرغونو لیږدونو په لړ کښی د (۲۸۰۰ ق م) په شاوخوا کښی په دې خاوره کښی میشت شوی دی.

دفنیقی تاریخ څومره چه ښایی هومره روڼ نه دی ځکه چه فنیقی کتابونه په ګوتونه دی راغلی او فنیقی کتیبی هم ډیرې لږې دی (۳)

(پاتی په ۵۵ مخ کښی)

«٤» د استاق بشرمه ٤٧

«٥» فرهنگ ایران باستان ۱۳۳

(۳) تاریخ ملل شرق و یونان مح ۱۱۵

دپښتو دنامتو شاعر ـ رحمان بابا په یاد هغه مشاعره چه دپښتو ټولنی په نګرانۍ دوطن دشاعرانو له خوا دحمل په څلورمه شپه په کابل راډیو کښی وشوه .

ښاغلی رشاد قندهاری

دپښتو ټولنې مرستیال

افتتاحیه وینا

درنو ښاغلو !

دنړۍ په ډیرو ولسونو کښی دا دوددی چه دکال په ځینو ورځو کښی به ګډه سره خپل تللی نومیالی یادوی اوپه دې توګه خپل تېر افتخارات له هېری اوورکاوی ژغوری، خوپه ویښو او رسیدلو قامو کښی دایادونی کـه دزوکړو کلیزی وی که د مړینو تلینی دتیرو مشاهیرو دتش تجلیل اود درناوی ترحدود ووزی اودتېرومفاخرو له یادونی سره سره دهغو دبیا ژوند او راستنو او له پاره دځلمو اوپېغلو په تودوزړونو کښی هڅه او تلوسه پاڅوی او دمېړونو اومېرمنو سترګی هغو نغوتو اوښوونو ته وراړوی کومی چه هغو درنو نومیالیو دقام دنېکمرغۍ خوشالۍ، سوسایۍ، بری، ویاړ، لوړتیا او تقویې له پاره کړی دی. په همدې آرزو نن بیا دتېرو کلو په شان، په کابل راډیو کښی دپښتو ټولنی په بلنه دهغه پښتانه متصوف او درد من شاعر په یاد مشاعره کېږی .

چه : حرف حرف ئې لکه دختن نافې. اومصرع مصرع ئې لکه دخوبانو زلفی دزړو هیوادونه معطروی .

«پاتی په ۸ مخ کښی»

گل پاچا (الفت)

شاعر

نور یې وصل کښې نه مومی څه چه دی مومی هجران کښی
خوندله حپله ذوقه احلی که هیڅ نه وی دستر خان کښی
گل لا ه وی تو کیدلی چه وزمی بې راځی ده ته
دبلبلو نغمی اوری دبل عصر گلستان کښی
دمرغانو پرواز و نه په هګیو کښی لا وینی
پلوشه دلمر لیدای شی دسپیدو څیری گریوان کښی
کړی سپوږمۍ سره حبری له آسمانه سره هم لا
دبلبل په ژبه باندی دی پوه شوی په جهان کښی
قسیم دی دده استاځی چه هر ځای نه لری لاره
کله ځی دشاه حضور ته کله گرزی په زندان کښی
دشاعر خیال همدغسی شپه او ورځ دی سر گردانه
یوساعت باغ و بوستان کښی بل ساعت وی په نیران کښی
ترجمان د طبیعت دی باخبر د ملك له حاله
غلی نه دی پاتی شوی په بهار او په خزان کښی
بیخودی اوخودی دواړه ده سره او ده کره وی
دی اضداد غاړه په غاړه لو بوی یوه میدان کښی
زیات و کم یې یوحرف نه دی خپلی خولی نه را ایستلی
عدالت دوزن وینو خاص د شعر په میزان کښی
د بل کور کښی خره غوائی وی دده بیت کښی معانی وی
حقیقت دی که مجاز دی دواړه شته د ده بیان کښی
کنایه باندی پوهیږی اشاره ورته کافی ده
همدغو مره ویل شوی د عاقل سړی په شان کښی
گوری تل مناسبت ته نه وائی نا مناسب څه
ده آهنگ نظم ساتلی د وینا ساز و سامان کښی

دبیان باغ ئی سمسور کړ داشعار و په بحرو نو
اوج او موج د کلام ساتی دخیا لاتو په طو فان کښی ،
د ده ستر گی دی دور بینی ذره بینی او حق بینی
له هر چائی نظر لوردی کوی ځار په کهکشان کښی ،
حا جبان او حجابو نه د ده مخه نیوی نه شی ،
حقیقت پسی کړی هغه په مکان او لا مکان کښی ،
عقل او فکر هغه ځای ته ، په هیڅ شان رسیدی نه شی
دشاعر خیال ځای نیولی په اتم نهم آسمان کښی ،
دی دحال په ژبه پوه دی قیل وقال ته حا جت نشته
اوری ډیر غلی شور ونه چه و یده دی نیستا ن کښی
زړه اوروح سره ئی کار دی نور بدن ته ئی پا م نه وی ،
ذوق او فکر لری برخه ، دشاعر په ارمغا ن کښی
دده کو رته دی راځی نه ، خیټو ر خلق هیڅکله ،
وریجی غوښی څوك نه مومی دشاعر په دستر خان کښی ،
حلا وت او ملاحت شته ، په کلام نه په طعا م کښی ،
دقام غم دده خوراك دی شته همدغه دده خوان کښی ،
دانسان فرق له حیوانه په خبرو با ندی شو ی ،
شا عر هر چا نه کامیاب دی دخبرو امتحان کښی ،
صنعت گردله معنی نه ښه لیلی شی جو رو لی ،
ښایست ده دی پیدا کړی دادب په خاندان کښی ،
د و ینا عفت دی دغه چه هم ښکلی و ی هم بکره
اوسی دغه ښایسته حوره ، دشاعر په دبستان کښی ،
ده سره تحولات شته ، دی راو ړی انقلا بو نه ،
په افکارو په عاد اتو په اوضاعو دد وران کښی

چه یو قام له خو به وینې کړی او فکرو نه را بیدار کا ،
قدرت دغه تاثیر ایښی دشاعر آه وفغان کښی .
ده راوړی ښه فکر ونه په هر وخت دغه جهان ته.
یوسف وینم را روان دی دشاعر دخیال کاروان کښی
ده فرهاد را پیدا کړی دشیرین وطن خدمت ته ،
ده رستم دی در ولی هر غلیم ته په میدان کښی .
دمحمود د بد به نشته شاهنامه دفردوسی شته ،
دغزنی ښار دی لوټ شوی، حدیقه شته په جهان کښی .
نه زړیږی نه ورا نیږی دشاعر بیت په قرنونو ،
دخیر کور له سلا بونوزلز، لووی په امان کښی .
په قرنو قرنو به ساتلی شاعران شی په دنیا کښی ،
هغه څه چه واقع کیږی یا ور کیږی یوه ان کښی
ډیر تاوده تاوده جنګونه پس له څه وخته سړیږی ،
خو جذبه د عشق او شعر نه سړیږی په انسان کښی .
دشاعر تودی خبرې هم هغسی لاتو دی دی
تل تر تله سوز موجو ددی سوزان شعر در حمان کښې .

(ده مخ پاتی)

چه :هر سپېڅلی اوسوځند کلام ئې لکه دتر کو دغمزو پیکان تر کو ګلووزی .

چه : هر شعر ئې دعوامو اوخواصو په زړه کښی یو شان محبوبیت لری اوهر روغ ورنځور ئې په دیوان کښی خپل خپل مراداو درمل موندلای شی .

چه: هر فرد ئې هغه اوښکی دی چه دزړه په تاو دلېمو له کوره رالیږ دېدلی دی او بې زړونو بل ځای نه تمېږی .

چه: هره خبره ئې هغه کوکه ده چه د کوګل دپردو په رېږد ترخوله راوتلې ده او د کوګلو بې کومو ئې بل چېرته ټېکه نشته .

پښتو ټولنه دهسی درنو نومیا لیو په یاد او تجلیل ویاړی اوهغو ښاغلو لیکوالو ته چه په دې مشاعره کښی ئې ګډون کړی دزړه له کومی کور ودانی وړاندی کوی .

ښاغلی عبدالله بختانی

ښه شعر

ډېره سادګی او نزاکت لری — ډېره روانی او سلاست لری
وائی چه دنیا پیدا له مینې ده — لوی پیغام د عشق او محبت لری
ښیی چه ښکلا ښکلو جلو سره — زیات تر مرغلرونه قیمت لری
تول باندی تللی او پېیلی وی — نظم او مساوات او عدالت لری
سورچه د عرفان له زمزمو واخلی — هسک ځی اسمانونو ته رفعت لری
و قدم تر عرشه پوری لار ښیئی — پراخ ډګر د سیر او سیاحت لری
اور د بدخواهانو په نرمۍ وژنی — ښکاری تشدد ځنی نفرت لری
هر چا لره خپله آئینه ګرځی — بی رویه ریا چه صداقت لری
ډېر کوی تاثیر د هر چا زړه باندې — لار لری په زړونو کښی رقت لری
لار د همدردۍ ښیی بی دردو ته — درد لری دوا لری صحت لری
راز ئې درار و نو راز داری کوی — هر څه ور سره دی کرامت لری
فال ئی په دیوان خلک رښتیا بولی — ډېر چه جامعی سره الفت لری
حل د معانی کړی اسانۍ سره — زښت ډېر فصاحت او بلاغت لری
«ښه شعر» په الفاظو پېژندی نه شی — زر کرته زیات تر دې صفت لری
لفظ ئی له معنا سره تړلی وی — قال ئی بیا د حال سره نسبت لری
سمه چه وینا شی له کردار سره — هغه نو ډېر قدر منزلت لری
پلار به د منکر پری اعتراض وکړی — د غومره افق ئی چه وسعت لری

شعر د رحمان بابا ئی لوستی دی
ځکه بختانی ورته حیرت لری

چه شپه په تېر ېدو شي نو سبا پسی را درومي
ظلمت چه انتها شي نو رڼا پسی را درومی
هېڅ څیز په دې جهان کښی ازلی ابدی نشته
نو بت چه ژړا تېر کړ نو خندا پسی را درومی
ځلا له ښکیه راغله ورو، ورو پریو ته مغرب کښی
تورتم به همېښ نه وی بیا ځلا پسی را درومی
په وچ ډاګو نو بیا او به را درومی پسرلی کښی
په خوړ چه، او به تېرې شی نو بیا پسی را درومی
میرې چه سرهٔ سالو شی دغا ټولو په کوکیو
د نجو نو بهیرو نه په ګډا پسې را درومی
چه سر، د سر(۱) په لاس، د پښتو ژنې؟ ز منځ کېږی
ښادی ده نن هېوا د کښی نو ره لا پسی را درومی
چه لار د ژوند کېږه او کله وره که شی تیارهٔ کښی
ځوانان د پښتانهٔ په راهنما پسی را درومی
غفلت باندې ویدهٔ قومونه پورته په نارو شی
دوره د کارو بار تل په وینا پسی را درومی
زرګونه بهارونه پټ پراتهٔ دی پښتو نخوا کښی
نن یو سر پورته کړی بل سبا پسی را درومی
په دې ښکلی بهار کښې چه را دیو مشاعره کا
زلمی د پښتو نخوا به خوامخوا پسی را درومی
شهی د سعادت دمېړنو خواله ور درومی
همت چه دچا لوړ شی ارتقاء پسی را درومی
سیالی شی په لوړ فکر د جهان په انجمن کښی
لویی هم د مرام د اعتلاء پسی را درومی
مېړانه، بادری، غیرت په نوی رنګ ظهور کا
نهضت، افغانی دغی رڼا پسی را درومی
جنبش دی، حرکت دی په مغزو د پښتنو کښی
څه نوې فلسفه کمال ته رسی لوړ وغرو کښی

ښاغلی ع مالك (جوهر) صدیقی

رحمان بابا ته یو عقیدت مند نظر

ستا رنګین خاطری دی — دخوا ږه ژوندون تفسیر
تا چه خیال کښی څه جوړ کړی — یو تعبیر دی د تقدیر
حقیقت دی سر تر پایه — تا چه ویستی کوم تصویر

دفطرت په شاهکاری کښی دقدرت سره همرازیې
دصفا ضمیر خاونده ! له عالمه بی نیازیې

دحیأت رمز دی څرګند کړ — تا د مینی پیمانه کښی
فلسفی دې را ښودلی — دجنون په ترانه کښی
های و هو پیدا شو ځکه — د دې دهر میخانه کښی

چه مظهر دشاهکاریو پیدا شوی دی د نیا کښی
هنګامه ده هنګامه ده په دی لو یه پښتو نخوا کښی

بی کچکول او کند فقیر یی — بی دولته لوی سلطان یی
په ظاهر که قلندر یی — په معنی کښی شاه جهان یی
دادب لو یه فضا کښی — عجب ستوری داسمان یی

په ادب او شاعری کښی دژوندون روح روان
افتخار دهر افغان یی افتخار دهر افغان

که هر څو مره داڅپی شی — اړخ په اړخ کښی دبدلون
ستا مقام له منځه نه وړی — تغیرات دنن پرون
ژوند ستا قدر کوی تل — چه شاعر یی دژوندون

لوی عنصر دملیت یی لوې قدرت یی په وطن کښی
هره ساه کښی مونږ سره یی څوچه ساه مووې په تن کښی

ښاغلی نیك محمد (پکتیا نی)

گل او گلونه

دپسر لـی د نسیم را غله کا ر وا نو نه بیائی فرش په شنه ماغوت کړه دښتی غرونه
واوری ژ اړ ی تر ی ر ا نه لښتی بهیږ ی لکه مست له مستی شو ر کا ا بشا ر و نه
په سر و ستر گو کا خندا په لوړو څو کو کټهار کړ ی ز ر کی بیا په گړ نگو نه
غوټی خو له په پر انستو گلا ن موسکی شول سندرا یز شو ل په ښکلا غر و نه لا ښو نه
دغا ټو لو د زړه د ا غ ا رما ن پو ره شو و ټومبل په تو ر اوربل پی مخو جو نه
نـوی نـو ی حـر کـت نـو ی هـواده نوی نوی ارز و گانی لـه ژو نـدو نـه
دپسر لـی د پیوزو بـنردې دوره کـښی استـوودعـقـیـدت احـتـرا مـو نـه
درحـمان لسا ن ا لغیب پښتنی روح تـه د نـسیم پـستو څـپو کـښـی پیغا مو نـه
ضرو ر شته د ا نفعا ل ورسر ه څـر یکه شتـه گیله یی له خوا ره وا ره پښتـو نـه
نن د خپل نغری په غـا ړه دی چر ت وړی نـه یی برم ، نه پر تم شته نـه هـا زړو نـه
نن د هغه قا م ا فر اد د ا سی خو ب وړی تـه وا جوړ دی دژو ند یو مړ ستو نو نـه
یا هغه پښتا نه نوروو ، د ا څـه نو ر شول چه یی دم ا رسـیکه نشته پـه ر گـو نـه
چه په داسی دغـفلت خوب کښی ویده وی د هغو زړ و نـه بـه څـه کـا هـو سـو نـه
دخودی احساس چه مړ شی په کوم کام کښی خودیی نښتی وی بل دام کښې ور میږو نـه
که یی عزم ا وارادی ځان کښی پیدا کړ ی او بیدا رشو ل لکه دی ژ و ند ی کا مو نه

او افغا ن سره افغا ن په یوه کوول شی

پکتیا نیه ! د نیا پسر لی گل او گلو نـه

مجله کابل

ښاغلی غلام جیلانی (جلالی)

دچا پسرلی؟

خلق وایی پسرلی دی، پسرلی نه وی د هغو
چه پراته وی په تکلیف او په کړاوو کښی دزندان

پسرلی خو د هغو وی چه شهی یی په نصیب شوه
نه چه وسیځی په عشق کښی ځان د هجر په نیران

نن هغه راغه زرغون دی چه په ژمی پټ بیدیا وو
ولی نه وینم په ستر ګو خپل روهی ښکلی ګلان

سپین غره سپین ټکری پسر کړ نیغ ولاړ په هسکه غاړه
لکه ګرانه مورچه څار کا دزا منو په میدان

دلیمو تویوم وینی خدا یه هغه دوران څه شو
نو بهارو یا رانه وه می و جام و ګلستان

چه په لوړ او ځوړ هر لوری شین زرغون سمسور جنت و
په هر خوړ کښی به سروزر کو کړواتن په ښه عنوان

مینه ګل، باندې به ګل وې مستو پیغلو به نڅا کړه
را روان له سرد رونه شنه رو دونه ډك ځپان

هم کبلو به په مانده کښی په غور زنګ او بی مستی کړې
له ګوښو به دهوسیو توری ستر ګی شوی عیان

په فضا به دمرغانو ډك له مینی شور ماشور و
زانې تلی، قطار قطار د لښکری زلمو په شان

زنګیدل به دچدن په لوړو څانګو تور ماران
لکه زانګی توری زلفې د دلبر په مخ ماران

نجنو ګڅ کښی د شمشاد په ونو تل وهل ټالونه
رنګ په رنګ ښکلی مرغان به وو په بڼ کښی غزلخوان

سالو والی به ختې لکه هوسی هسکو دروته
په اوربل به اغلو پیغلو قطار کړی ول ریحان

دبیز په لوړو څوکو به بامی هسی جلوه کړه
لکه څرك وهلی ستر گه چه ځلیږی پر اسمان

طبیعت به تل خندل دپسرلی گل و گلشن ته
نن خو ژاړی په هر بڼ کښې مرغی چونی بلبلان

زمریان وختل په دنگو دنگو غرونو کار عجب شو
بازان والوتل له سمو گوندی وینی کوم طوفان

پدې حال کښی بابا وویل بچو! داد حال په ژبه
دهمت سقوط تبرته زیات تاوان لری په ځان

داهغه موسم دگلو هغه ملك هغه هیواد دی
چه هر بوټی به غلیم ته لیا ایمل شو لیا ملتان

په ختکو او به رغښتی هر سړی دځان په ویرنی
اورم کام دی ټول ژوندی خو ترې نه مړدی خوشحال خان

ورکزی بنگښ، بړیڅی په ښکاره گوندی بازی کا
دتیرا په اپریدو کښی نشته بل یو دریا خان

دکسی غره په لمنو کښی ما دمرگ چپه چپیاده
ارمړشته خواوربې مړدی ځکه مړشو میارو ښان

خبر نه یم څه به کیږی څه به وشی پس له دېنه
بیا په شنو لو خړو پټ دی که خیبردی که بولان

ستادژوند په دې صحنه کښی دجادو شپیلۍ زغیږی
د درخانی افسانه ده خو لو بغاړی غمازان

څومکیږ تماموی، پوه شه نرگس بهار به تیر شی
دپښتون بچیه! پام کړه فرصت لږ دی مطلب گران

دغفلت له خوبه وښوره را پاڅه ځان چمتو کړه
دمطلب په لور روان شه جوړ کړه خپل کوټکی ویران

که دې داځلی فرصت دلاسه ورکړ کار تمام دی
بیا به هله شی راوینې چه د محشر وشی اعلان

ښاغلی دوست شینواری

درحمان بابا په یاد

په چمن کښې که ګلونه پریمان وی
خود ښکلو څو ګلونه په ارمان وی

که په یو چمن او یو باغ کښې پیدا شی
باور مه کړی چه یو ګل دبل په شان وی

چه یوه ښاخ کښې اغزی ګل سره زرغون شی
یو په اور کښې بل د پیغلو په ګریوان وی

بنیادم هم ډیر تمیز لری په منځ کښې
یو دقام او دجهان وی بل دځان وی

دیو پلار او دیوې مور په ډیر اولاد کښې
چیری یو یې انلا تون وی، یا لقمان وی

چه لکونو بنیادم په جهان تیر شول
د کوم یو نوم به باقی لا په جهان وی

ډیر شاهان عالمګیران له دنیا لاړل
چه یې خاوری ور سره نام او نشان وی

نه یې نوم دچا په خوله اونه په زړه وی
نه یې ځای چاته معلوم او نه زمان وی

ځنی ځنی د دوهی په غاړه زیست کا
د جهان نه بې پروا وی ملنګان وی

قناعت یې تر خرقی لا ندی اتلس وی
ګدا ښکاری خود درست جهان سلطان وی

دریا خرقه یی هیڅ نه وی په غاړه

تل کاږه پټکی پسر قلندران وی

که یی نه شی د خانانو سره کلی

پس له مرگ یی شاهان گورته ورروان وی

ددنیا ټول منصبونه ورنه جار شه

هغه څوك چه یوملنگ لکه رحمان وی

د اورنگ هنگامې لاړې شی سړې شی

خود ده هنگامې گرمې په جهان وی

دپښتون دخولې به وردیې ای رحمانه

څوچه داجهان ودان وی او افغان وی

ښاغلی امین الله «زمریالی»

نه شاګردیم نه استاذ

پسرلی شو هر پیداله خو به وینې شو د جهان بڼه بدله په بل رنګ شو
دا بدلون د ماهیت د مکتب راز دی ها استاد سو چه شاګرد ددې فرهنګ شو

زه یم پروت په رډو ستر ګو در ته ګورم
نه شاګردیم نه استاذیم نه څه ښورم

داسی ډیر ژمی شول تیر پسرلی راغله زه پوه نه شوم څنګه راغله څنګه تیر شوه
نه زمونږ د پسرلی را ته معلوم شو د وږمو راز ته نه ځیر چه په څه څیر شوه

تش په خیال زه هر کلی کوم د دواړو
حاصل نشته تخم پاشم زه په شاړو

کله ګډ زه په صفت د ګل بلبل شم کله زلفی زه شانه کړم د سنبلو
کله ووایم شهلا ته ته دیار د ستر ګی کله سروی څخه جوړ کړم قدد ښکلو

د هر شی په ظاهر رنګ باندی غولیږم
د وړو کو غوندې خیال ته هوسیږم

کله لمر دمغ بچه د پښو خلخال کړم کله ګنج کړم مخ یی ساتم په مارانو
کله مخ یی ځان ته لمر زلفی یی شپه کړم بیا یی پټ کړم لمر په شپه کښی له یارانو

حقیقت نه خبر نه یم محض هوس دی
بی کاروانه شرنګهاری د جرس دی

کله مینه د شهرت می لیونی کړی لا شاګرد نه یم پخپله ځان استاذ کړم
داوې داسی چه او به غلبیل کښی اخلم چه پخپل صفت پخپله خپل زړه ښاد کړم

نه په اصل نه په فرعه باندی پوه یم
دا چه وایم چه زه پوه یم لا نا پوه یم

په هر چا او په هر شی پسی زه ځغلم نه څه زما شوه نی څوك و ځان ته خپل کړه
خیال هوس می دوړو کو ته دی ور ته دا چه ګوری په انګل می نونس شل کړه

نه یو ځای کښی په ارام راحت کوی شم
نه لمن د خوشحالی په لاس نیوې شم

زما څخه ور که خپله لار په نا پوهی ده ای رحمانه استاد ر بار ته یم راغلی
ته ما پوه په حقیت کړه هم می خپل کړه ځکه ته یی چه تر لاس نیسی لا یدلی

چه ګفتار د حقیقت کړم زمریالی یم
که کردار می حقیقت شو بریالی یم

ښاغلی محمد عثمان نژند

رحمان بابا

روحانی پلاره ! ستا ماوا ستا مقبری ته سلام

ستا له خاطره می ها ټولی هدیری ته سلام

داستا په ستر ګومی جمله هزار خانی ته سلام

ستا بزرګی، ستا عظمت ستا مرتبی ته سلام

ای! دعزت ای! دشهرت او فضیلت خاونده !

لویه مرشده ستر ستانه دکرامت خاونده !

ستا په وینا کښی جذبه ډیر تأثرونه پټ دی

ستا داشعارو په دیوان کښی دیوانونه پټ دی

ستا دالفاظو په معنی کښی عنوانونه پټ دی

ستا د افکارو په طوفان کښی سیلابونه پټ دی

دحقیقت ښایسته دنیا کښی حقیقت خاونده !

لویه مرشده ! ستر ستانه دکرامت خاونده !

واړه اوغټ ستا په وینا باندی فالونه ګوری

داستا په پاکی آئینه کښی خپل حالوینه ګوری

هر سړی خپل نیت سره سم خپل مرادونه ګوری

دپښتون قوم پکښی خپل تللی شوکتو ګوری

ای دپوهانو انجمن کښی معرفت خاونده !

لویه مرشده ! ستر ستانه ! دکرامت خاونده ؛

«نژند» داستا مبارك روح وته دعا استوی

پس له ښښی درته عرض و تمنا استوی

په تمنا کښی پښتانه دا مدعا استوی

د پښتو ژبی ترقی ته التجأ استوی

دا فصیله ده اخری دمصلحت خاونده !

لویه مرشده ستر ستانه دکرامت خاونده !

ښاغلی عبدالشکور (رشاد) قندهاری

درحمان بابا پر قبر

سخ بهار پر جهان راغی، تورې خاو رې شنی تالې (۱) شوی
سبا بیا دعیسی ساه شوه. څا څکی بیا دژوند چینی شوې
غو ټی بیا پرمسا را غلې، نافی وچاو دې له شوقه
نشاط بیا پرمستی راغی، ځوا نی بیر ته را ستنې شوې
وریځ بیا هغه تیاره شوه، چه دژونداو به پکښې دې
سپیره ډکی (۲) پرې راشنه شول شنګډې ګرګی (۳) ترې لندې شوې
دراع زړیو وده وکړه، دباغ مړیو ژوندون بیا موند
وچی لښتی بیا له شکره، وسجد وته را کښې شوې
څانګو بیا سره او زده کړل، وبله غاړ وته لاسونه
مینې بیرته راتودې شوې. وینی بیرته سره سرې شوې
بیا پردیس ګلونه را غلل، بوراګان بیا ترې جاریږې
دسرو بلایی اخلی دبلبلو چهچهی شوې
په بدل دهغو او ښکو چه درست ژمی به تر لو (٤) تلی
هر کړم (٥) دمستی خم شو، نوک دخضریی عقدې شوې
ګلو سردی را ایستلی، بیا له هر درود یواره
کښیدې دحسن ګورې، دانځورو (٦) ننداري شوې
غیلی بیا پر ګلو څرې، کیلی بیا پر ګلو رغړې
ځلمی بیا پر ګلو ناڅی، پیغلی بیا پر ګلو سرې شوې

۱ـ تاله ـ هغه تنګی واښه چه په پسرلی په دښتو اورغو کښی شنه کیږې
۲ـ ډوکی ـ خاشی او اغزې
(۳) ګرګه ـ کتده د تاك کنده
(٤) لو ـ دتاك او زدې لښتې
(٥) کړم ـ غوڅ کړه، غوڅ کړه شوې ځاې
(٦) انځور ـ نقش، رسم

په حملو حملویی کا ږې سره یو دبل له لاسو
په تادی تادی(۷)یی پیی دچا هار دچا ګجرې(۸) شوې
بیا دغرو په شنو لمنو، لمبی پورې ارغوان کړې
پر تنکیو ګلو ماتی لارې لارې بیا خولی شوې
کاته بولی دحق لورته، په کلیم پسی خپرې دې
دجهان په غرو رغو کښی دطور پوړندی (۹) لالی شوې
آد ښکل په تیغ شهیدده! آدعشق د پت مرشده!
جګی جګی یووار پاڅه، له موږ هیرې ستا نغمی شوې
بیا لیندی پرچغانه (۱) ږده، چه خوب وباسی له سترګو
دبیدو بهار خزان دی دېرې واړه هدیرې شوې
بیا هغه او رونه شینده، چه زړه زړه پولی پولی(۲) کړې
ستا دسویی (۳)زړه په سویی ږو، دلته مړې هغه لمبی شوې
په تو دو تودو نغمودې، بیا ګرمی ور کړه محفل ته
زړونه تېزې کړه مستی ته، ډکی پا ته پیمانې شوې
جګی جګی بیا په شعر، په خندا په نڅا سر کړه
هغه ستا دباګرام ترکی، دمسکون مجسمی شوې (٤)
هغه څوب (٥) په نغموور کړه، چه ترسر په عشق کښی تیر شې
شمعی ژاړې په دی ویر کښی، چه بیدرده پروانی شوې

---

(۷) تا دې - بیړه تلوار
(۸) ګجره - لاس ندې وشی
(۹) پوړندې - خو ګلن
(۱) چغانه - دیوه سازنوم دی یوې پردې او یوې نغمی ته هم وایی قصیده هم چغانه بالی شو
(۲) پولی - تنا کی
(۳) سوی - سوځلی، سیځلی
(٤) دلته درحمان بابادې بیت ته اشاره ده هم نغمی کاندې هم رقص کاهم خاندې درحمان په شعر کی دباګرام
(٥) څوب - زیات شوق

«ادم» پت دمینی نور کړ، مهار بیا رقیب تري ړ ! خیست

د «در خو» دزړه له تاوه ، په محمل پور ې شعلې شوې

شپیلو ژبی په غم پرې کړی، رانجه وخوړل بین مارو (٦)

دنـل زړه له غریبـه وچاود، دشپنو ساوی سړې شوې

خوب هیڅ نه لحی له لیمونه، وهم لحاې په زړو کښی ونیو

له دې وینو کرمی ولاړی، ددې مینو ولی پـرې شـوې

دصیادو وزې ستر کی، بلبل نـه پریښ دې په بن کـښی

لومو مات کړل وزر ونه، تورې پاتـه اشیا نـې شوې

داد دنکو غرونو څو کی، په حسرت کوری دې حال ته

ضبـط دابنـکو یی و نه کړ، غاړې غاړې تري شیلې شـوې

جگی جگی بابا پاڅه، د کوچ زغ پربیدو و کـړه

مـزل لیرې دی هر کوره، خوشی میشتی قافلی شوې

په نغمو نغمو ژو ندې کړه، ددې مڅـکی دسر مـړې

ارزو گانی تخنوه (٧) بیا، په یائس دامینی سپیرې شوې

(٦) بین مار ـ شپیلی وهونکی

(٧) تخنوه ـ تخوه

ښاغلی سید محمد طاهر (بیـنا)

عبدالرحمن بابا او نوی کال

نوی خو شحالی او نوی کـال شو نن نوی حسن جوړ نوی جـمال شو نن
نوې مز ه داره ورځ او بخت نـوی نوی پسر لی شو راغی و خـت نـوی
نوی تصـو را ونـو ی خیا ل شو نن
نوی حسن جـوړ نوی جمال شو نـن
نوې منظـرې نـوی دو ر ان راغی شین پسر لی زمونږه په جهان راغی
باغ او راغ په سرو گلو سنبال شو نن
نو ې حسن جوړ نـوی جمـال شو نن
نوی خط او خال چه دوطن جوړ شو ډك په گلو هر طرف گلشن جوړ شو
بیا جوړ د بلبلو قیـل و قـا ل شو نـن
نـوی حسن جـوړ نوی جمال شو نـن
نوې رنگ او بوی نوې آرزو سره نوې نهضتـو نـه د بیـر زو سـره
داد پسرلـی نـوی استقبال شـو نـن
نـوی حسن جوړ نـوی جمال شـو نن
ښکاری پکښې درس دی نوی ژوندزمونږ نوی امیند و نه نوی پـند زمو نـږ
دامـوسـم ددې آرزو مثا ل شـو نـن
نـو ی حسن جـوړ نوی جمال شـو نن
دا ښکلی مو سم دژ وند هند اره ده دامـشا عـره رحـمان دپـاره د ه
دادسعـادت فـرخـنده فـال شو نـن
نـوی حسن جوړ نو ی جمال شو نـن
دې بـهار نـه بل بهار پیـدا غـواړ و خاورې ته پسر لی دارتقا غـواړو
ربه !دامی ستا په در کښې سوال شو نن
نوی حـسن جوړ نوی جمال شـو نن
خنکه چه پسرلی. کښې داخوندو نه شته خاورې ته می زړه کښې امیدو نه شته
داورځ ې می ځـری دآمال شو نن
نوی حسن جـوړ نوی جمال شـو نن

ښاغلی عبدالکریم (محب)

نوی زړه

څوك ښکلی ښکلی محبوبی څوك به کلونه ستایی
څوك به جمال د ښکلی مخو څوك خالونه ستایی

هر څوك به هرچه ستایی د ښکلا یه نامه
بلبل بهار مین ،رخسار، ساقی جام و نه ستایی

څوك د لیلا د خور وزلفو نه هم تال جوړ وي
څوك د خور و پریشانو زلفو تور تمونه ستایی

مطرب خوږ و خوږ و نغمو کښی ،دمستو، به او از
په زیراو بم کښی پسرلنی خوازه شعرو نه ستایی

شاعر دا نوی رنګینی سودا یی غوندی شو
کله بهار کله بیمار او زخمی زړو نه ستایی

مادپښتو ادب دنوی رنګ بهار ستایلی
نوی احساس کښی می ماضی خیال دمالیار ستایلی

ماوی د نو و قافلو نه تیر کاروان خبرو م
د زمانی د دور نګو نه شاعران خبرو م

د ملنګا نو د بی کیفو بی جذ بو نشو نه
زړی د وهی سره ملنګ عبدالرحمان خبرو م

د د غو نو و افسانو د یو د تمثیل د پاره
په نوی خیال د زوړ شاعر معجز بیان خبرو م

د مینی لاره ور که شوی مینا نو ختی
د جاله رو یه به د مینی رهبران خبرو م

د ملت ، افغانیت ملی غرور په نامه
چه هنګامی را پاروی هغه ځلمیان خبرو م

دشاعری نوی حرم کښی زوړ شاهکاریا دو م
په نوی دور دزاره با با ګفتار یاد و م

ښاغلی لایق

دکوکچی په غاړه

دښکلی بدخشان په پسرلی کښی له هر لوری
د ګلو په څپو کښی دبلبلو هنګامه وه
دعشق او دښایست او دښکلا په فیض آباد کښې
دستورو داسمان او د پیرونو زلزله وه
دلال او دلاجورد او دسرو زرو په وطن کښې
روانه له ښکلا او درده ډکه افسانه وه

له موجه د کوکچې نه راوتلې زلزلې وی
دتورې شپې په زړه کښې رار وانې ترانې وې

د ښکلی طبیعت او جنتی اسمان د لاندې
په صافه بی غباره جنتی غوندې هوا کښې
دغروله پورته څوکود ګلونو په طوفان کښې
دمست اولیونی سین د موجونو په ګډا کښې
دبادله ترانو سره چه ستا ځې دپامیرو
په وړوړ زمزمو کښې په خندا کښی په ژړا کښې

دسیل په څیر راغلې له هر لوری افسانې وی
دګران وطن دخلکو هیرې شوې خاطرې وې

له باد اوله وزمو سره موجونو د کوکچې ته
راغلې له پامیره داستانو نه د طوفان وو
دوا ورو په اوبو کښې یو جهان دخاطراتو
له لوړه هندو کشه بدخشان ته را روان وو

په هره ترانه کښې چه کوکچې به سرکو او
کښل شوې په خوږو خوږو نغمو کښې تللی شان و

ویدې په هره پاڼه کښې پیړۍ او زمانې وې
له خاورو راوتلې د پلرونو نشانې وې

له بلخه، له هری نه، له زرنجه، له بامیانه
له هر لوری راغلی وو دردونه به وزمو کښې
ښایست وعظمت وعاشقی وه ملیت و
تاریخ په ګفتګو و دښکلا په زمزمو کښې

په بهنده کو کچه کښې چه راوی دهندو کش دی
تاریخ د کنشکا وښودل شوی په موجو کښی

روانی فیض آباد ته د یوو الی قافلې وې
د درد او ملیت او وطنوالی هنګامی وی

په زړه کښی می له درده یو طوفان په خوځیدو و
په یوه څاڅکی دوینو کښی جهان په خوځیدو و
ژوندی غوندی بهیر له ایخوا دیخوا راروان و
زلمی او منو را فغانستان په خوځیدو و
د عصر په خوږ و او خوندورو ترانو کښی
له جرمه تر پا میره بدخشان په خوځیدو و

د تالندی په چیغو کښی د نوی ژوند ناری وی
د هیلو، امیدونو او کارونو ترانی وی

راغلی دی محفل ته له هر لوری شاعران و و
زمونږه د پښتو او پښتنوالی راویان و و
شیدا و، ماشوخیل و، د ختکو کورنۍ وه
ټول شوی په ویاړنه د بابا عبد الرحمن و و
زمونږه په خوبونو غفلتونو یی ژړا کړه
له ستر ګویی داوښکو سیلاوونه را روان و و

په شونډو د رحمن کښی د دردونو زمزمې وې
تاوی شوی په غیرت د پښتنوالی کښی لمبې وې

خوبونه کله کله خدایه څومره خوندور وی
یا ښایی چه زمونږه له دردو څخه خبر وی
یا داچه زمونږ په هیلو او ناپایه هوسو کښی
د صبر او د وفا او سربازۍ دغه اثر وی
یا فصل د بهار به د ګلونو په طوفان کښی
راوستی زما خیال لره بدل غوندی نظر وی

سبا له خو به پا څیدم نه چنګ او چغانې وی
نه ښکلی فیض اباد کښی د پلرونو نشانی وی

ښاغلی ارسلان سلیمی

پښتنو زلمیو!

اې د رحمان دعزیزانو پخوانو زلمو!
ګلاب راوټو کوی ء دخپلو وینو بیا پسرلی شو

په بی پښتو زلمو و خاندی ننګیالو زلمو
ګلاب راوټو کوې ۀ دخپلو وینو بیا پسرلی شو

تاسی په ننګ دخپل وطن کښی خپلی وینی کړی ء توی
ځکه غاټول تو کیږی هر پسرلی ستاسو وطن کښی

ستاسو دوینو په هرڅا څکی کښی بس یوه ارزووه
چه مو وطن شی آزاد هم مو وطن شی آباد پښتونستان

چه تاسی وی ء نو خیبر لاره د پردو نه وه
ځمونږ دښنو نه وه هلته او دلته بس یو افغان وه

سلام سلام دی وی په تاسی ننګیالو زلمو
ګلاب راټو کوی ء دخپلو وینو بیا پسرلی شو

تاسی ژوندی وی ء چه افغان به تا تره ګټله
هم یی نامه ګټله دښمن خجل و زمونږ په مخ کښی

تاسی چه وی نوا باسیند داسی نامراد نه و
داسی ناښاد نه و ستاسی په توره به ویاړه ید لو

هر یو زلمی به بس په نوم دیو افغان زاریدو
سر په تلی دریدو دقام په ننګه په پښتنوا له

وطن به ستاسی په نوم ویاړی تر پیړو زلمو
ګلاب راټو کوی ء دخپلو وینو بیا پسرلی شو

ستاسی په زیار په دی وطن کښی به بهار و همیش
تازه ګلزار وهمیش خزان لانه و چاپیژندلی

مینه وه مینه چه افغان به له افغان کوله
غریب او خان کوله ځکه خو جګه دقام شمله وه

ځکه خوزه په هدیرو ستاسی سلام کومه
هم احترام کومه په دواړه لاسه ستاسی پښتو ته

مونږ به هم ښاد شو که شو لاړ ستاسی په پلو زلمو
ګلاب راټو کوی دخپلو وینو بیا پسرلی شو

ښاغلی م . ننګرهاری

افسوس

نه اباسیند کښی شته چپی او نه طوفان لری نه په هر څه پوره پښتون د زړه ارمان لری

نه اوس پښتو سړ بنی عبدالرحمن لری نه ځکه ښکلی د بګرام نته پیزوان لری

ځکه بهیږی د باړی او د جمرود اوښکی

لکه د سرو وینو سیلاب هسی لوی رود اوښکی

که وخوشال، زمونږ د ژوند د آب و تاب سترګی نو و رحمان د ژوند د مینی د کتاب سترګی

که سرداری لره په کاروی د عقاب سترګی نو سرسبزی لره ضروروی د سحاب سترګی

که تیری توری د ژوندون عزت او پت ساتی

نو یاد لری چه د ژوند خوند به صحبت ساتی

چه نه مومندو نه خلیل و خو رحمان به و له دی وړو، وسوسو پورته اوی افغان به و

د قلندر جامه جوړه کښی شاه جهان به و د ژوندانه د پټ پنهم رازو نوکان به و

څوک دی چه و پوښتی باړه زمونږ رحمان څه شو

په د بګرام ښکلو د عشق هغه سلطان څه شو

د ژوند بیړۍ چه شو له ډوبه د لټون څوک دی د بدو پیښو د کږو خولو د سمون څوک دی

ستونی می ډک شی چه خیبر وایی پښتون څوک دی لکه لیلی چه کله وایی مجنون څوک دی

څوک دی چه ښکلی د بګرام په ولولور اولی

د دی ساړه سمڅ ګو د رشوق په څپور اولی

دا ښکته پورته کوز او پاس دالر او بر د وطن د ګټی لوټی جاړی بوټی سمه غر د وطن

دا باسیند او تاتری دا بحر و بر د وطن اخوا بولان او په دی لوری دا خیبر د وطن

واړه څه وایی خو څوک پوه شی د هغو په ژبه

مړی شی کله پوهیدلی د ژوند و په ژبه

ښاغلی نصرالله (حافظ)

درحمان باباشعر

ډیر پری تیر شول خزانونه همدارنګه بهارونه
څو د ده د شعر دبو تو دی تازه غوټی ګلونه
که یی وړی دی له ځانه سره ډیر ډیر ارمانونه
خو پری ایښی یی دی مونږ ته ډیر دمینی سوغاتونه
پښتانه ورته په زړو کښی لری ډیر ارادتونه
په هر کور کښی ویل کیږی دا خوازه خوازه شعرونه
چه په شعر او شاعری کښی په یقین غیب اللسان دی
دا بابا عبد الرحمن دی. دا بابا عبد الرحمن دی
صدقی ته ددلبرو چه کړی خواست او دنیا غواړی
څه دپاره څوك پوهیږی څه د مینی ګدا غواړی
دریا پګړی یی ورانه کړله صدق او صفا غواړی
ددرواغونه بیزار دی په هر کار کښی رښتیا غواړی
چه خپل ساز ته سوز دمینی په ټول عمر دوا غواړی
خندانه غواړی خپل زړه ته کړیدن او ژړا غواړی
لوند یی شپه او ورځ په اوښکو چه دچا په غم ګریوان دی
دا بابا عبد الرحمن دی. دا بابا عبد الرحمن دی
نه درم لری په کور کښی نه دینار ور سره شته دی
خو دمینی په دنیا کښی اعتبار ور سره شته دی
دی قانع په خپله برخه او قرار ور سره شته دی
په سینه کښی زړه په مینه دنیا دار ور سره شته دی
که هیڅ نه لری په لاس کښی غم دیار ور سره شته دی
په هر وخت کښی د خبرونو بهار ور سره شته دی
چه یی غوره په نظر کښی له وصال ځنی هجران دی
دا بابا عبد الرحمن دی، دا بابا عبد الرحمن دی

پاتی په (۳۲) مخ کښی

ښاغلی سمسور ساپی

ستا په یاد رحمان بابا

له اغراق او تصنع نه مبرا دی - ستا د شعر هر یو بیت او هر پیوند
شعر څه چه په معنی سحر وایه شی هم مطلع او هم مقطع یی دل پسند
ستا د شعر جذبی هسی چاری کاندی نه یی دام نه یی ځنځیر شی نه کمند
دادب د بلبلانو زړونه زانګی ستا د شعر په هر شاخ کښی بند په بند

په رښتیا چه د پښتو ژبی معمار ئی
ته په دی بڼ کښی د دی ګلو ملیار ئی

هسی رنګه رنګینی ستا په کلام کښی وایم داسی رنګینی په بل کښی نشته
ستا کلام کښی څه نیشی ښکاری له ورایه چه هغی غوندی نیشی په بل کښی نشته
هسی کیف او نزاکت دی ستا د شعر چه ها کیف او نزاکت په ګل کښی نشته
هغه سوز او هغه شور چه تاسره دی هغه سوز او هغه شور بلبل کښی نشته

ته پاچایی په (نړۍ) دژبه ورو
رهنمایی په (اقلیم) دسترګه ورو

قناعت دخسروۍ تاج ور په سر کړ بی پروایی له پاچا او له امیره
په نفسی خواهش دی ایښی قدمونه د ملکو خواته لاړی هوا ګیره
زړه دی وو بنځه دعشق په سمندر کښی ته دعشق غواص وایه شی پاک ضمیره
ته ائینی غوندی صفایی صفا وینی ای په کار دعاشقی دهر چا پیره

ستا ادراک او شعور هسی شان پرواز کړی
چه په پټه پټه زړونو سره راز کړی

ستا په هسی جذبو باندی نازیږم ستا دخیال په الوتو باندی نازیږم
ستا پرسوزو خاطرو باندی نازیږم ستا دروح په تلوسو باندی نازیږم
ستا دزړه په شرارو باندی نازیږم ستا دمینی په لمبو باندی نازیږم
ستا دفکر طوفانو باندی نازیږم ستا دشعر په زلزلو باندی نازیږم

هر شاعر دی په هر بیت باندی مین دی
دا دستاد نازک خیالی عجیبه فن دی

ښاغلی محمد علم (بړو وال)

رحمان بابا

د ادب شغلې دی ځی د ګورستانه اې رحمانه

ته ژوندی ئی خاورې اسه یې

حقیقت کښی پښتو تا ده ژوندی کړی

ورته کړی خدمتونه تا بیشانه

ستا دفتر لکه د سرو زر و معدن دی

لعل ګوهر پکښی پراته دی بی پایانه

د ادب په عمارت کښی بل چراغ یی

پتنګان ورته راځی د پښتو نخوانه

حقیقت دې په اشعار و کښی څرګند دی

ستا دفتر دی تازه تر له ګلستانه

توری کرخی دی زلفان د معشوقو دی

هر کلام دی په لعلونو دی ارزانه

د مجاز نه حقیقت ته رسیدلی

فضیلت مولاء درکړی فیض رسانه

په ظاهر لباس د غم نه قلندرو

په معنی کښی وی اوچت له هر سلطانه

لوی واړه پښتانه تول په تا نازیږی

ته بابا د پښتنو یی عالیشانه

ګورستان دې تل په تا ګل ګلزار وی

جنتونه دې نصیب شه مهربانه

ښاغلی نادر (جلالی)

دقام شاعرته

شاعره؟ څو به مهرویان ستایی — یا به خالونه تورچشمان ستایي
تر څو به ستایی ښایسته ګلونه — یا به بلبل هزار داستان ستایي
لا به تر څو کړي د هجران خبري — یا به دوصل خوږ دوران ستایي
ګل او چمن به ته تر کله ستایی — یا به تر څو باغ او بوستان ستایي
می او مغان به ته تر څو یادوي — تر څو به ساز او مطربان ستایي
تر څو به خیال کښی ګلستان جوړوی — پکښی به سره او ژیړ ګلان ستایي
یا به تر څو مجنون لیلا یادوی — یا به رابعی ته فتح خان ستایي

تر څو به می او می خانی یادوی
یا به ګلرنګی پیمانی یادوی

کله دمستو په مستۍ کښې ډوب یی — کله د مینی یوه دنیا جوړه کړي
کله خزان کښی نو بهار راولی — کله ګلزار څخه بید یا جوړه کړي
کله سپوږمۍ سره خبرې کوي — کله دخیال ښکلی لیلی جوړه کړي
کله تیاره وي رڼا ورځ درباندی — کله په توره شپه رڼا جوړه کړي
کله په فکر کښی آسمان ته جګ شی — کله په خیال کښی ته ماءوا جوړه کړي
کله دستور وستر ګکو نه ستایی — کله شفق نه کربلا جوړه کړي
کله جهان در ته زندان ښکاره شی — کله بیا بل رنګه غوغا جوړه کړي

دا څه نشیب او څه فراز لری ته
زه خو پوه نه شوم چه څه راز لري ته

قام دي ویده په درانه خوب پروت دی — ته د آسمان په بلند و کښی ګرزي
د پلار نیکه ځمکی دي شاړي وینم — ته د دي دنګو غرو سرو کښی ګرزي
قافلی لاړي اوس منزل ته رسی — ته د سکون په کښ لیچو کښي ګرزي
د تمدن ناوي آسمان ته درومی — ته لا دخیال په سرد رو کښی ګرزي
خلك سپوږمۍ ته ځی آن امر نه خیژی — ته لا دسوز او ساز پرد کښي ګرزي

دنیا بدله شوه او حال بدل شو — او ته دخط او خال میرو کښې ګرزي
پسرلی راغی هم به بیا راشی — ته لا دخیال په پسرلو کښې ګرزې

شاعره ته څه کړې ؟ رحمان څه کول ؟
ته په څه بوخت یې خوشحالخان څه کول ؟

راشه ویده قام دې له خوبه جګ کړه — په مړو اؤزړ نو کښې هوس پیدا کړه
که درحمان دروح ارام غواړې ته — دقام په تن کښې دې نفس پیدا کړه
سکون بدل کړه حرکت راوله — میر دکاروان شه او جرس پیدا کړه
په حماسی او اصلاحی سندرو — په قام کښې مینه یو په لس پیدا کړه
بی دمه زړونو کښې څه دم پیدا کړه — په بی وسانو کښې لږ وس پیدا کړه
په نارو سر شه غلبلی پورته کړه — په لاندی ځمکه کښې یو کرس پیدا کړه
پخپلو سوزند وخوږ و شعرونو — ویره په زړه کښې دنا کس پیدا کړه

بیا به نو هله درحمان هډوکی
ګور کښې آرام شی او ارام به وکړی

(د ۲۸ مخ پاتی)

له منصور غوندی ندافه چه اورنګ قربانوی څوك
په اخلاص باندی اسمان ته چه خاته اسانوی څوك
چه دمینی پټ رازو نه بی پرو اعیانوی څوك
په بازار د محبت چه سر او مال سودا کوی څوك
چه محمود د عشق په کار د غلام غلاموی څوك
په خبرو چه د شعر په ښکاره اعجاز کوی څوك

بل څوك نه دی در ته وایم چه دا هسی سخندان دی
دا بابا عبد الرحمن دی، دا بابا عبد الرحمن دی

ښاغلی مجاور احمد «زیار»

رحمان بابا

نن دې بیا، له پا که نیته پښتون کا م
لیږ ی ، پاك سپیڅلی روح لره سلام

غو اړم دا چه‌دی بیان کړمه اوصاف
ته صاحب د لوی عزت یی دا کر ا م

نه کړی خیال، زما پروازچه دې وستایم
لا و زرې، دی او س نو ی فکر خام

که څه هم دی شا عران په دنیا ډیر
ستـاد شعر په رنـګ نه لری الها م

تصنع ځینې وې لـرې ای رحمـا نه
منظـرو دطبیعت کـښې وی رسام

ای مو منده ! ته‌وی جګ له‌خپله‌قومه
نه را تلـلې دا خبرې دې لـه پام

نه‌به وی دغـو مره بل چـا ته نصیب
کـو م چه کړی دې الله په‌تا انعام

کوم منکر بری اعتراض کولای نه‌شی
ده معلومه ستـا له طرز ه له کـلا م

ور کـه کـړې ده ما لار د عا شقی
رهنما مې شه چه و مو مـم آ ر ا م

چه دی نښتی، د مجز یه کـلـکه لو مه
را بهر کـړه (مجا ور) له دغـه دا م

ښاغلی صمیم الله

رحمان بابا ته

تا بار کـړې خزا نې د قناعت وی
پټ‌ددرست‌جهان‌پاچا ظاهر ګداوې

ته عاشق وې درویزه دې کړه دعشق
شپه‌او ورځ دیار په‌غم کښې‌مبتلاوې

سرو مال دې صدقه کـړو د دلبر نه
ته‌رښتیا دیار په مخ باندې شیدا وې

دیار غم‌دې همیشه په زړ ګی پروت و
ددنیـا دسیم وزرنه بـی پروا وی

عالم ګـیر دپښتو ژ بی‌وی رحمانه!
دادب آسمان کښې ستوری دسباوې

اور نګ‌زیب اوشاه‌جهان سره‌جوړ نه‌وی
خومنصور ته تسلیم شوی په‌رښتیاوې

حقیقت‌په‌عشق کښې‌تادی‌ځر ګند کړی
مخا لف د دوه رنـګی‌او دریاوې

ته‌مقصد ته رسیدلی وې په عشق کښې
ځکه‌ته دیار په مینه کښې رسوا وې

دهجران په‌شپه هم یار درسره ناست‌و
پټه خوله لکه غنچه ورته ګویاوې

پتنګ تا نه سوزیده په‌اور کښې زده کـړل
ته د عشق په کـارو بار کښې بی همتـاوې

ښاغلی محمد صدیق (پسرلی)

نظر له ستر ګو چه راووزی شی روان په ګلو

حسن او نظر سره جاریږی یو په بل وغوړېد
که خدای خبر له ډېره شوقه ګل په ګل وغوړېد
یا که سالوو دلیلی چه په اور بل وغوړېد
یاد عشاقو په بید یا کښی هر یو پل وغوړېد
او یا خود ښت واړه یو ګل و چه یو ځل وغوړېد
له ډېر و ګلو خالی مځکه لکه ګل ښکاری

.....

بڼ یو ګرېوان ایسی چه مستی شګوفی پکښی وی
چه د ورېښمو د زرنارو کشیدې پکښی وی
نری ویالې لکه چه لیس او یا چرمی پکښی وی
کوم چه له پرخو دغوټیو ډکی خولی پکښی وی
لکه چه ایښی ئی رونی رونی ښیښی پکښی وی
ځای ځای سنبل لکه وټی ورسره مل ښکاری

.....

لمن لمن شوه د وړو چه له ښیښو ډکه وی
یا د اختر په ورځ اه وړ وړ پتاسو ډکه وی
یا دور نما د استدیوم چه له سړو ډکه وی
یا د شاعر د خیال د نیا له ښا پټرو ډکه وی
یا د بهزاد ستر ګه له پاتو منظرو ډکه وی
یا د جنت کوم رنګه فلم په ښو دل ښکاری

.....

چه خوږ نسیم شی د سحر کله مهمان په ګلو
تنکی ښاخونه سره ښکل کړی د بوستان په ګلو
کله له نازه سره ولی مینان په ګلو
نظر له ستر ګو چه راووزی شی روان په ګلو
تنکی غوټی ته ګوره څومره تلی ځان په ګلو
په هره پاڼه کښی یې یو زړه د بلبل ښکاری

رڼو ډنډونو کښې د شوقه چه هیلۍ لوبی کړی
لکه دوصل په ژړا کښې چه خوښۍ لوبی کړی
یا د اسمان په شنه نامبو کښې چه سپوږمۍ لوبی کړی
یا د لیلی په سپینه ټنډه چه روپۍ لوبی کړی
یا د آبدان په شنه لمن کښې چه هوسۍ لوبی کړی
ښکلی او ښی لکه لیمه چه یو په بل ښکاری

.....

زرکی راټیټې شی له غرونو او دښتونو ته ځی
سری کړی پښی او سری مښو کی چه ګلونو ته ځی
لکه چه پیغلی ځان سنبال کړی ګودرونو ته ځی
یا ماشومان چه په اختر میند وبلرونو ته ځی
سپکې چټکې ته واهیلی دی او زړونو ته ځی
یا رونی او ښکی دی روانی په ګو ګل ښکاری

.....

رودونه مست شوو له مستۍ یې سرودونه شوو مست
پیالی شوې تشې د حباب ځکه موجونه شوو مست
چه د مستۍ مستې میلې دی هیوادونه شوو مست
یا د ښکلا رسم ګذشت دی او فکرونه شوو مست
ګل او بلبل بې ملو مست دی ارمانونه شوو مست
ستر ګی زما که د فلك دور بدل ښکاری ؟

.....

ګلونه یوه خوله شوو او ستایی یو د بل رنګونه
بو یو نوور کړه یوه وبل ته د ورورۍ لاسونه
رودونه وایی غرورغو کښی د خوشحال شعرونه
چه د طاووس تر ښو ښه ایسی سپیره ډاګونه
بیا په لمنو غوړ یدلی د رحمن خیالونه
او که دا ټوله د پسرلی یوه غزل ښکاری

دښاغلی میر اکبر ترجمه

دمشری له کتاب څخه

یو تر بیوی بحث

دمشری محرکات

کوم وخت چه دیو مشر په څیر له یوی ډلی سره مخامخ کیږی نو ښایی چه د هغی ډلې له داخلی جریاناتو څخه ځان خبر کړی نه له ډی حیثه چه د ډلی غړی څه وایی یا څه کوی بلکه باید په دی باندی ځان پوه کړی چه د ډلی غړی څه فکر کوی؟ کوم شی دوی ته د تعجب وړ دی؟ څه احساس کوی؟ او له تاسی څه غواړی! په دی شیانو باندی ځان پوهول د ډلی په محرکاتو او د ډلی په داخلی جریاناتو باندی پوهیدل دی.

کوم وخت چه څه اشخاص د خبرو اترو لوبو یا دیو ځای کار کولو په نیت دیوې ډلې په شکل سره تولیږی نو د دغه تولیدو له کبله بوه دوره یا جریان منځ ته راولې چه دا دی اوس کوښښ کو وپه دغه جریان باندی ځان پوه کړو د دغی ډلې هر یو غړی داغواړی چه خپل انفرادی شخصیت او عقاید سره له تولو خپلو شخصی هیلوا و غوښتنو وساتی او د پخوا په شان خپل شخصی طرز د فکر او احساسات خوندی کاندی مګر کوم وخت چه یو فرد په یوه ډله کښی شاملیږی او د ډلی له نور و غړو سره د مناسباتو پیدا کولو قصد کوی نو پدغه وخت کښې د عمل او احساساتو له نو یو تجربو سره مخامخ کیږی او د انفرادی حالت مخالف استقامت ترازموینی لاندی نیسی چه له پخوانی حالت څخه بالکل تو پیر لری د دغه کیفیت د افدی د پاره کافی کلمی نه لرو خو په مثالونو کښی به یی لږ څه توضیح کړو مثلا یو شمیر هلکان په خپلو کښی سره تولیږی چه فوټبال یا کومه بله ډله ایزه لوبه وکړی. په ناګهانی ډول سره هر یو له دغو هلکانو څخه ځان دیو ټیم غړی مومی او پدی شروع کوی چه وروسته تردی د ډلی یا ټیم د غړی په حیث حرکت وکړی هغه چه هر عمل کوی هدف یی ډله یا ټیم وی دادی ته پاتې کیږی چه ګواکی د ټیم هر یو غړی دیو څه مودی د پاره په دې منظور چه د ډلی یا ټیم له نورو غړو سره په ګډه فکر او کار وکړی له خپلو تولو فردی شخصی نظریاتو او غوښتنو څخه لاس وباسی وروسته تردی د دغه ټیم یا ډلی هر یو غړی چه هر څه کوی نو په نظر یه یې د ډلی نوی غړی وی او د ډلی نور

غړی بهم په خپل وارسره دده دا عمالو
په مقابل کښې عکس العمل څرګندوی
اوس دپخوا نیو هغوانفرادی اشخاصو
په ځای چه هریوه یی ځانته شخصی هدفونه
لرل یوه داسی ډله منځ ته راغلی چه لږ او
ډیر تشکیل شوی ده دډلی هریو غړی نور و
غړو ته منسوب او دډلی نور غړی دیو
دائروی جریان په شکل له ده سره مناسبات
ټینګ کړی دی چه دغه مناسبات تل
متغیر دتل لپاره دموجودیت خاوند او
دیو مشر تر لار ښوونی لاندې وی هر څه چه
یو غړی کوی یا یی وایی د نورو غړو
متقابل عمل ځانته جلبوی او په خپله هریوه
غړی ته ښایی چه په خپلو رانلونکو اعمالو
کښی د نورو غړو متقابل اعمال په نظر
کښی ونیسی له کومه ځایه چه دډلی هریو
غړی په دغه دائروی جریان کښی داخل
دی نو په دی اساس اعمال په اتوماتیک
ډل سره په مخ درومی.

اوس له هماغو بیلو بیلو اشخاصو څخه
یوه داسی ډله منځ ته راغلی ده چه په خپله
له خپل ځان څخه انرجی اخلی او په
بیلو بیلو درجو دخپلو شاملو افراد
استعدادونه را پاره وی مونږ غواړو
چه موضوع دهمدغه دائروی جریان له

لیاری تعقیب کړو او ترڅیړنی لاندی
یی ونیسو دیو ځای کار کولو او یو له
بل څخه دلاس ته راوړولو او دیو بل
داعمالو په مقابل کښی دمتقابلو اعمالو
دڅرګندولو په واسطه دکار یو ډینامیک
جریان منځ ته راځی چه له دغه ډینامیک
جریان څخه دوه اړخیزه مناسبات
پیدا کیږی.

هر وخت چه دیوی ډلی دغړو ترمنځ
دګډون دغه احساس انکشاف مومی په
نسبت ددې چه دهغو قواوی آزادیږی
نو له عادی مناسباتو او فعالیتو څخه
ډیره ګټه ډیر ابتکار او ډیر حساسیت پیدا کوی
په عین زمان کښی له دی کبله چه دغه
قواوی په یوه لور سمیږی نو تشکیلیږی
هم او هر کله چه دډلی مرامونه قبلوی
ترزیاتی اندازی دنوو مرامونو خاوند
هم کیږی. ددی معنی داده چه دډلی
غړی له هر هغه شی څخه چه دنن ورځی
له غوښتنو سره سرنه خوری او دډلی
له فعالیتونو سره مناسب نه وی یا خو یو مخ
لاس اخلی او یا خو یی ترزیاتی اندازی
پوری کموی لکه شخصی حسادتونه نور وته
زیان رسول او داسی نور.

دډلی هریو غړی په هغی وظیفی کښی
چه په خپله خوښه دوی غوره کړی او هریو

په پوره زړه خپل ځان دهغې داجرا په لاره
کښې وقف کړی دی یوقسم د نفس د سپلین
هم لاس ته راولی . له یوی اندازی ټیټو
او نامربوطو افرادو څخه له فردی او ډله
ئیزو اصلاح شویو اعمالو سره دیو متشکل
کل منځ ته را تلل د ډلی د محرکاتو
دموجودیت سبب کرځی . د تشکیلونکو
غړو انرجی او قوا وی په بیلو بیلو لارو
په کار لویږی او د بیلو بیلو مقصدونو لپاره
استعمالیږی چه دهغو له جملی څخه
«د ډلی محرکات» او «د ډلی فیصلی» دوه
داسی مثالونه دی چه مونږ ورسره اشنایو،
چه د ډلی محرکات په ډله ایزو خبرو اترو،
لوبو، فلم، قصی یا په ناولونو کښې په ښه
توګه توضیع کیدای شی یا په بل مثال هغه
وخت چه دیوی ډلی غړی په خپله خوښه
په یو کامپ یا دراماتیکی حادثی کښې یوه
کوچنی ښوونه ورکوی د خپلو روا یا تو
او دودونو په باره کښې سره خبری کوی
دغه مطلب په ښه شان سره توضیح کیدای
شی ځکه چه په دغه موارد و کښې ده چه
د ډلی غړی پوهیږی چه اوس داسی فکر
او خبری کوی چه پخوا له دی بالکل بدی
عقیدی نه و چه دوی کولای شی دومره ښه
فکر او ښی خبری وکړی څه وخت چه په

یوه ډله کښې د خل او د ډلی د محرکه قواو
په مقابل کښې یی متقابل اثرونه څرګند
کړل دوی دیو بصیرت خاوند کیږی چه
دوی دهغه بصیرت په مرسته دا شیاؤ په
واقعی مفهوم پوهیدای شی . له نورو سره
دهمدردی احساس پیدا کوی او په ژوندانه
کښې داسی تجربی لاس ته راوړی چه د دوی
د تکامل په لاره کښې یوه نوی مرحله بلله
کیږی . له نورو سره تعلقات پیدا کول
او په ډله کښې شریکیدل د ډلی هر غړی
ته هغه لازمه ډاډ او محرکه قوت ورکوی
کوم ته په دوی په خپلو نظریاتو کښې
د تجدید نظر په خپلو پخوانیو اعتیادی
اعمالو کښې د تغیر پیدا کولو او په خپل
طرز فکر او مناسبا تو کښې د بدلون
راوستلو لپاره ضرورت لری.

که چیری لږ څه واضح وویل شی هغه
دادی چه هر کله چه یو فرد په کومه ډله
کښې اشتراک کوی نو د دغه اشتراک
او ګډون په وجه په خپل ځان کښې داسی
قوتونه او استعدادونه ورڅرګند شی
چه تر هغه وخته پوری پټ یا بیکاره پاته
شوی وو او په خپله دی په خپل ذات کښې
دومره مقتدر نه وچه هغه قوتونه
او استعدادونه را څرګند کړی او په

کاربی واچوی نود دی مقصد لپاره یی دیوه انډیوال او ملګری مرستی او همکاری ته اړه لرله

نن مونږ له ډیرو وضعیتونو او حالاتو سره مخامخ یو چه په پخوانیو زړو عقایدو او نظریاتو باندی تشریح کیدای نه شی نو ځکه باید دغه حالات چه مونږ ورسره مخامخ یو دهغو نویو نظریاتو او عقایدو به رڼا کښی تر څیړنی لاندی ونیول شی کوم چه دژوندانه په هره برخه کښی کار ورکوی. مونږ ټول هغو تجربو ته اړه لرو چه دلرغونیو زړو مرسومه عقیدو او نظریو دبدلون او نویو عقیدو او نظریو د زده کړی په لاره کښی له مونږ سره مرسته کوی. دلته ده چه دمشرانو وظیفه سختیږی دوی مسئولیت لری چه دهغه چا په حیث چه د نظریو او دزړو مناسباتو دتغیر په لاره کښی له نورو سره مرسته کړی وظیفه اجرا کړی. خو مشر باید پوه شی چه دډلی غړی ددی دپاره چه خپل طرز دفکر له سره تشکیل کړی او دتفکر هغه اصلاح شوی طرز چه به خپله خوښه یی منلی دی په کار را چوی فرصت او وخت ته اړه لری.

اوس به پوه شوی یو هغه شی چه مونږ ورته ډلی محرکه قواوی وا یو کومه نوی اختراع نه وه بلکه یو جریان دی چه له لرغونیو پیړیو څخه را پدی خوا په انسانی چارو کښی رواج وخوا یوزی په دی تازه وختو کښی وپیژندل شو او ترکتنی لاندی ونیول شو په ارادی ډول سره غواړو چه دغه قواوی دډلی د علاج او تر ډیری اندازی پوری دډلو په تشکیلاتو کښی لکه دصناعت، تجارت تعلیم تفریح او حتی په ځینو عسکری جزو تامو کښی پکار واچوو او فایده تری او چته کړو.

کوم شی چه په غیر استدلالی او حس ډول سره دمشرانو له خوا پرته له کوم شعوری او معقول استدلال څخه د ټولنو دلارښوونی او اداری لپاره تر اوسه پوری پکار اچول شوی دی هغه بن دمشری په کار کښی دمرکزی ټکی په حیث منل شوی دی دلته تعین شوی مشر دډلی په تشکیل او عملیاتو کښی د کاتالست انزایم یا محرک په حیث کار کوی (کاتالست هغه واسطه ده چه دمرکباتو په تحلیل او ترکیب کښی په اصلی عناصرو باندی دیوی واسطی په څیر کار کوی خو په پخپله تغیر نه منی) هغه وخت چه ټول دغه شیان په صحیح ډول سره وپیژندل شول نو بیا وینو چه مشر په ټولنه کښی دیوه مدیر، قوماندان ماهر رئیس او یا خود یوه واکمن انسان په څیر رول نه لوبوی. د پورتنیو څیړنو له مخی مشر دډلی یا ټولنی یو غړی دی

چه یوه خاص مسؤلیت ورپه غاړه دی او
خپله مشری دډلی له نورو غړو څخه په لاس
راولی مجبور دی چه دډلی د غړو سره
مناسبات پیدا کړی او دغړو مناسبات یو له
بل او له خپل ځان سره وساتی که څه هم
مشر دمشری په لوبه کښی یو فعال غړی دی
خود نورو غړو برخه اخستل هم پدغه لوبه
کښی یو ضروری کار دی یو اځی هغه څوك
چه په دی ډول سره یا هغه مشر چه په دغه شان
سره ظیفه او خپل رول و پیژنی کولای شی
چه دیو مشر په حیث کار وکړی او د ډلی
له غړو سره دهغه شی دلاس ته راوړلو په لاره
کښی مرسته وکړی کوم چه دوی یی غواړی
هر څنګه چه وی مشر دیو مشر په حیث د خپل
شخصی تشویق او پرمخ تګ لپاره هم خپلی
ډلی ته اختیاج لری دی هغه وخت په خپل
نفس باندی ډاډ پیدا کوی چه دډلی نور غړی
دده له غوښتنو سره موافقه وکړی او همدغه
شی دی چه مشر کیدو لپاره دده استعدادونه
تقویه اوژوندی کوی نو بیا مونږ وینو چه
مشر په خپل ذات کښی عبارت دی دذات
البینی مناسباتو له یو دائروی جریان
څخه چه دمشر او د ډلی د غړو ترمنځ او
دډلی دغړو په منځ کښی یو له بل سره او
بیا دډلی او مشر ترمنځ موجود دی.

له کومه ځایه چه ټول غړی په ډلی پوری
تړلی دی نو له همدی امله هر څه په ګډه
احساسوی په ګډه خبری کوی او په ګډه
کار کوی د خپل معین مشر په مرسته او
تشویق سره دډلی دمشری په کارو کښی
برخه اخلی.

دامعمول ده چه مشر به په خپله ډله
کښی داسی یو شخص ووینی چه دډلی په
نورو غړو ډیر ګران وی که څه هم دغه
شخص دښو نظر یو حتی دښه قصاوت خاوند
نه وی خو بیا به هم وجه لری او په نورو به
له ټولو څخه ډیر زیات ګران وی. داسی
اشخاص دمشر لپاره ښه مرستیال کیدای
شی ځکه چه دغسی اشخاص کولای شی چه
ځینو نازکو حالاتو کښی ډله ارامه وساتی
دډلی معنویات لوړ او نارامی پکښی لږی
کاندی مشر ته ښایی چه داراز اشخاص
دخپلو بهتر ینو معاونینو په حیث و پیژنی
او ددوی په دغه راز همکاری باندی
اعتماد ولری. تر ټولو پورته داچه مشر ته
نه ښایی چه داسی اشخاص د سیالی په
سترګو ووینی او په ټولنه کښی ددوی
دښه نامه په نسبت په زړه کښی دحسد
او کینی حس ته ځای ورکړی، که څه هم
هره ډله او هر مشر به له نورو ډلو او مشرانو
څخه فرق ولری.

هره ډله او هر مشر به ځانګړی مخصوص
مقصد و نه او اړتیاوی ولری خو کوم شی
چه په ټولو ټولنو او ډلو کښی شریك
او عین شی دی هغه کړنی او اړیکی دی چه
دمشری په عملیه کښی شاملی دی.

بین المللی قانون او سوشلزم

دبین المللی قانون مسأله دقانون او سوشلزم په رابطه کښی خاصه داچسپی او زیات اهمیت لری. هم دا ید یا لوجی نظره اوهم دعلمی ملحوظا تو له مخی دقانون سوشلستی نظریه نه یوازی داچه دبین المللی قانون بقا اوموجودیت څرگندوی بلکه د بشری ټولنو ددوام او بقا لپاره هغه یو حتمی او ضروری امر گڼی.

که چیری قانون دیو میزان په حیث چه د حقوقو مساوی ساتنه او صیانت تامینوی تعریف شی نو ښکاره خبره ده چه دنن ورځی بین المللی ټولنی لپاره دبین المللی قانون سیستم یو واجبی شی دی. داچه د بین المللی قانون موازنی ددولت له خوا نه دی وضع شوی اولدی امله چه دغه قانونی موازنی د جهان د(عالی دولت به شکل سره) ددولت له خوا تضمین شوی نه دی ددعی موضوع په اصلی مفهوم او ماهیت کښی کوم تغیر نه پیښوی.

دداخلی یا ملی او بین المللی قانون توپیر یوازی په هغه درجه کښی چه هغه دوجایبو او تعهداتو په څیر بیان شوی دی څرگندیږی خو باید وویل شی چه بین المللی حقوق او قوانین لزوماً دبیلو بیلو هیوادو دموجودیت او فعالیتونو نتیجه ده. دبین المللی حقوقو واجبی خاصیت هم د بین المللی ټرونو په محتویاتو کښی یا حتی په بین المللی اتحادیو او تشکیلاتو کښی چه دهغه واك او قدرت د انفرادی غړو قوت او نفوذ زیاتوی موندلی شو،

سوشلزم دبین المللی قانون موجودیت او صلاحیت دعلمی نظرئی په شان یوازی په بین المللی روابطو کښی نه لټوی بلکه سوشلزم دبین المللی حقوقو او قوانینو اساس او بنسټ دبشری ټولنی په اقتصادی ثقافتی، سیاسی او همدا رنگه په انسانی نورو نژدی او دائمی روابطو او دبشری جامعو په یوتر بله وابستگیو کښی چه ژر تر ژره به یوه نړی تری جوړه شی موندلی شوو. په دغه نړی کښی د بشرد یووالی قواووخته پرته کورنی اختلافات هم هرومرو پیښیدونکی او نه ژغوریدونکی دی. په عمومی صورت سره نړی لکه څرنگه چه دانفرادی دوه دولتو په چوکاټ کښی ټولنی خپل موجودیت بقا او پرمختگ

لپاره قانونی موازینو ته اړی دی دغه ډول
موازین پرته له دې چه ایاو ګړی او یا
انفرادی هیوادونه یې غواړی که نه له
ټولنی څخه منځ ته راوځی له بل پلوه
سوشلزم دوګړو او اجتماعی قواوو د آزاد
تکامل ایډیالوجی ده چه د بشری ټولنی
په تحول، تبدل، تکامل او تشکل کښی د بیلو
بیلو اشکالو د لرلو د ضرورت په باره کښی
تاریخی حقیقت څرګندوی همداوجه ده
چه د آزاد او حپلواك و لسونو تر منځ
د مرستی ضرورت او همکاری احساس لکه
د بیرته پاته هیوادو سره د اقتصادی او
نورو مرستو د پراختیا او انکشاف غوندی
منځ ته راځی څو چه په دغه ډول سره وکولای
شی د کلچر او اقتصاد په ساحه کښی
یوې لوړې سوئی ته ورسیږی او وګړو
ته د انسانی فلسفی په لحاظ له انحصار او
مرئی توب څخه نجات ورکړی. د بین المللی
حقوقو او قوانینو په باره
کښی د سوشلزم دغه مثبت طرز تلقی نه
یوازی د سولی د ساتنی او وګړو ته د برابرو
حقوقو د تأمین نتیجه ده بلکه په نننۍ دنیا
کښی د اجتماعی او سیاسی سیستمو نه له
غوښتنی څخه هم په لاس راغلی دی چه
وکولای شی کوم هغه موفقیتونه چه د علم
او تکنالوجی په ساحه کښی د انسان په
برخه شویدی د بشر د خدمت او د راتلونکی ژوند
د ښه کیدو د پاره استعمال کړی د بین المللی
انکشاف او پرمختګ په اوسنی مرحله کښې
نن ورځ نه کوم بشپړ نوی او نه کوم
مطلق او اجتماعی سیستم لیدل کیږی او
نه هم کوم کاملاً خراب او بیرته پاته
او یا تماماً ښه او مترقی اجتماعی سیستم
په نظر راځی. د دولتی انحصاراتو هره
ښه او د دنیا د ایډیالوجیکی ویش نژدی
بلاکونه منفی انشاء آت دی چه د نړۍ
د ازاده او حتمی الوقوع تکامل او پرمختګ
او د اجتماعی او سیاسی ثابتو او مترقی
شکلونو تدبیرو ته شاته غورځوې. پدغه توګه
سره بین المللی قانون په زیاتیدونکی
شکل سره په اوږده موده کښی یو ممکن
ضروری او مثبت شی و ګڼل شی او هغه
بین المللی قانون په داسی سیستم باندی
تطبیقیږی چه پکښی د یووالی او مساوی
حقوقو هغه عناصر شامل وی چه په عمومی
توګه تری د موجوده نړۍ له روابطو او
تمایلاتو څخه منځ ته راغلی دې.

د بین المللی روابطو مفهوم د هیوادونو
د (سولی غوښتونکی فعال ګډ ژوند) په
اصطلاح کښی شامل شویدی پرته لدې چه

دهغو داخلی اجتماعی او سیاسی سیستمو
نه او دتکامل او پرمختګ درجه په نظر
کښې ونیوله شی دنړۍ داقتصادی او اجتماعی
یووالی ضرورت نتیجه اومحصول دی. نوله
دی کبله ګډ ژوند دسیاسی مشی او تکتیک
مسأله او دنو و علمی اختراعاتو زیات
تخریبی تاثیر که چیرته دنظامی مقاصدو
دپاره استعمال شی داد راك او حصول
نتیجه نه ده. ګډ ژوند اصول داو سنی
جامعی په سازمان او دموجوده اوضاعو
او شرایطو په اګاهی سره چه دوګړو
زیات شمیر پکښې برخه اخیستی ده موجود
دی. ګډ ژوند دهغه حقیقت پیژند نه ده
چه هیڅ یو هیواد که څه هم ډیر لوی او
مترقی وی همدا راز ددولتو هیڅ یوه ډله
او ګروپ پرنړۍ باندی قهراً دحکمرانی
حق نلری او نشی کولای چه خپلې نظرئی
او پریکړی پر نورو و منی بلکه په نننی
جهان کښې بنائی هردولت خپلواك اوسی
او آزد قضاوت و لری. ددغو افاقی
شرایطو په اساس چه دموجوده نړۍ
تکامل او پرمختګ دکتنی ورکړی وی
دوګړو او دولتونو ترمنځ ددیموکراتیکی
او مترقی نهضتونو حسن تفاهم فعال اوسوله
غوښتونکی ګډ ژوند روا جوی او په
بین المللی حقوقو کښې تحکیم او تشئید،
استقرار، سوله او د آفاقی قوانینو تطبیق
پیدا کوی اوله استبداد، تیری او بی
قانونی څخه ټولنه پاکوی.

سوشلزم با لطبع دبین المللی حقوقو
او قوانینو دموجودیت اودهغو دانکشاف
او ترقی ملاتړ کوي. سوشلزم دانه غواړی
چه یوازی خالص سوشلستی بین المللی
قانون دی طرح او برقرار شی چه دغه
کار به داوسنی شرایطو او حالاتو په
اساس دزور او قوت یو عمل وی چه د ګډ
ژوند داصولو سره تضاد پیدا کوی همدارنګه
دغه ډول غوښتنه به اساساً دسوشلستی
هیوادو دګټو اوسوشلستی انکشاف او
پرمختګ او دسوشلزم له نظرئی سره
متضاد واقع شی. دا ځکه چه سوشلزم په
بین المللی حقوقو اوقوانینو کښې دخود
ارادیت پرنسیبو نو خپلواك اوارامه ګډ
ژوند دوګړو اوهیوادونو ترمنځ برابر
والی اومساوات ته دیو لوړ مقام په
ورکولو دلچسپی ښکاره کوي.

داهغه اصول دي چه ټول ازاد او
ډیموکراتیکی نهضتونه اووګړی ورته
هڅه او کوښښ کوي. له بلی خوا په بین المللی
حقوقو او قوانینو کښې دسوشلستی نظریاتو
شمول دټولو ازادو وګړو په ګټه ده.
څرنګه چه په نننی نړۍ کښې سوشلزم
یومشروع او واقعی شی دی په بین المللی
حقوقو او قوانینو کښې دسوشلستی

عنا صرو تقویه او پر اختیا
د بین المللی جامعې او بین المللی حقوقو
او قوانینو دبقا او حاکمیت او قدرت لپاره
یوروا او حتمی کار بلل کیږی. موجوده
بین المللی حقوق چه د ګډ زیست په اصولو
بنا شویدی سر له هغو بندیزو تونن روځ په
دوومهمو وظایفو په کار اچول شویدی :
لومړی خوداچه بین المللی حقوق د بین المللی
سولی او امن د ساتنی په نړۍ کښی د ظلم ور
کولو او په سو له سره د تولو بین المللی جنجالی
مسالو او کړو کیچو نو حل کولو د پاره
یوه مهمه طریقه او وسیله ده دا ځکه چه
دهغو تجربو له مخی چه په لاس راغلی دی،
بین المللی اختلافات او کړ کیچو نه د تیری،
ظلم، جګړو او دازادو ملتو وبه ژوند کښی
د مداخلی موجب ګرځیدلی دی د بین المللی
حقوقو او قوانینو دغه مثبت او سو له
خوښو ونکی او تعمیری رول د هغو د بقا
او موجودیت ستر شکل او اساسی شرط
دی دوم داچه بین المللی حقوق او قوانین
د سولی فعال ګډ ژوند «چه د مساوی حقوقو
په اصولو ولاړ وی» اجتماعی ترقی او د تولو
وګړو د تعاونی خپلواکی د ګټو د پاره ښکاره
ممدی د بین المللی مد حقوق د نړۍ زیات شمیر
اوبوتر بله لیری هیواد و نه یو بل ته ډیر نژدی کوی
او د دغه څر ګند حقیقت چه په جهان کښی هیڅ
یو هیواد د زور د استعمال حق نلری زیات تائید
کوی او نه به دا کار دهغو په ګټه تمام شی
چه غواړی له بین المللی تولنی او همکاری
څخه لیری اوجلا پاته شی دغه وظائف زمونږ
د اجتماعی او اقتصادی او بین المللی روابطو
له طرز څخه منځ ته راځی نو لدی کبله
بین المللی حقوق په دغه تو ګه سره یو ضروری
او مترقی عامل دی بین المللی حقوق سر بیره
پر هغه چه سو شلستی نظریه او قوانین
څر ګندوی همدارازدهغه مادی او معنوی
تائید او تطبیق هم مهیا کوی سو شلزم هم
د نظر او د عمل له مخی د بین المللی حقوقو
او قوانینو په حلقه یو مثبت او ښکاره طرز
تلقی او څر ګنده موقف لری .

د بین المللی حقوقو اصل او منشاء لکه
د نور و حقوقو په شان په اجتماعی د اقتصادی
او سیاسی روابطو کښی لیدل کیږی دیو
نظام او قانونی میزان ضرورت به دواړه
په ملی او بین المللی ساحو کښی تر هغه وخته
پوری موجود وی څوچه بشری تولنه د بشپړ
انسانی او بین المللی منافعو او علایقو او
مسئولیتو نو د یوالی ارد افراد و آزاده
تولنی (چه پکښی انسان د کامل او مطلق
او مساوی حقوقو څخه بر خور دار وی)
شرائط پیدا نه کړی تر کومه چه حقوق
د بین المللی په شمول سره په دغه تکامل
کښی بر خه اخلی او تر هغه وخته
پوری چه دغه کار یو داسی نظام ګرزی
چه د یوی شمیر وګړو او دولتونو له خوا منل
کیږی دا به د تمدنو د یمو ګراسی او د نړۍ
د سولی د ګډ ژوند او اجتماعی ترقی ممثل وی

«پای»

له انګریزی منابعو څخه :

مترجم حسن کاکړ

دهند اجتماعی حال

هر هغه څوك چه غواړی دهند او سنی اجتماعی حال باندی پوه شی باید دا مقاله و لولی. مترجم

دهندوستان په یوه معتبر اخبار کښی می یو ځل لاندې دوه اعلانونه په ستر ګوشول:

« دیوی سوداګرې کورنۍ یو سوداګر ځوان چه ښه هستی، دوه موټرونه اود میاشتی دوه زره کلداري عایدات لری غواړی، چه دیوی ښکلی ځوانی نجلۍ له مور او پلار سره مکاتبه ولری. مقصد واده دی چه نجلی دی یوازی داګراوال له کورنۍ څخه وی.»

بل اعلان بیا دا ویل :

«یو ښکلی تعلیمیافته ځوان له هرې طبقی څخه چه وی د ازدواج دپاره.»

ممکن یوازې یو څو خلکو نه غیر چه دځوانو لونو خاوندان وی دا اعلانونه نورونه وې لوستلی. داخر ګندونی لومړی سطحی غوندې بریښی خو که فکر ورته وشی د ننۍ هندی جامعی عمق سړی ته رابر سیره کوی.

طبقه یعنی څه؟

دهند دطقاتی سیستم عمر څلور وزرو کلونو ته رسیږی. په هندی زړه جامعه کښی څلور قسم ورناس) یا څلور ډله خلك وو :

برهمنیان، شتریاس، وشیاس، او سودراس. داویش دهند په زړو قوانینو کښی چه ډیر مهم یی د مانو قوانین دی هم شته او تر اوسه ډیر شهرت لری. دمانو قوانینو د مختلفو طبقاتو د پاره داسی وظایف ټاکلی وو.

برهمنیان روحانیون او فاضلان وو. ددوی وظیفه په درمسالونو او کورونو کښی ددینی مراسمو انجامول وو. د شتریاسانو وظیفه داوه چه له خپل ملك نه دفاع وکړی او اداری چاری یی اجرا کړی. وشیاسان لوی تاجران وو. سودراسیانو یوازی جسمی او عضوی کارونه کول او د طبقاتو په سلسله کښی تر ټولو ښکته وو.:

دهندوانو په عقیده ځینی کسبونه لکه چرم ګری ناپاك ونو ځکه پورته څلورو طبقونه اجرا کول داسی ناپاك کارونه به نورو کول ددا سی ناپاکو کارونو کوونکی ددوی په اصطلاح (اګران،

چوړیان ، ناپاکان، نا ملموسان(۱)) وبلل شول .

حتی دمانو په وخت کښی هم هندی جامعه دومره انجړه وه چه له پورته څلورو طبقاتو سره یی سرنه خوړ . عسکر او رسمی ماموران که څه هم په دوهمی طبقی کښی ووخو په اجتماعی لحاظ برابر نه وو . په سودا گرو کښی هم داسی فرق واضح و د ملوك الطوایفی (نیو ډالزم) په هسکېدو سره صنفی اتحادیی راوړتې . سودرا او دبیلو بیلو کسبونو چوړیان یی پکښی یو ځای ونیول . بر سیره پردې دهند دمنځنیو پیړیو دحاکمانو سیاست او دهند ویزم عقیده په امتیازاتو او اختلافاتو بناوه .

ورناس په دی ډول په وړو مگر ښکاره او مشخصو ډلو وویشل شول چه دطبقاتو (۲) په نامه یادشول. دې کار په چوړیانو هم اغیزه وکړه او هلته هم طبقات جوړ شول .

دطبقی مفکوره چه د هند حاکمانو له خوا ووته پسی بیخه وره شوه. په کوم ځای کښی چه کومه ډله حلك له مروجو عنعنو او دودونو څخه ایستل کیدل او یا محروم کیدل نتیجه به یی د نوې طبقی منځ ته راتلل و . د مثال په ډول په ۱۸۶۶ کال کښی داوړیسی په ختیځه غاړه کښی سخته قحطی راغله. د قحطی له کبله دا لازمه شوه چه څو (چترونه) پرانیستلی شی او قحط وهلی خلك پکښی تغذیه شی . له یوه گډ لوښی څخه خلکو ته کتغ وویشل شو خود دی کار له امله داوړیسی ډیر خلك له هغه ولایت څخه په دی گناه پرار شول چه دوی د نورو طبقاتو له اعضاو سره گډ خوراك کړی وو. پرار شوو کسانو ځانله بیله طبقه جوړه کړه چه هغه د (چتر خی) په نامه یاده شوه معنی یی هغه کسان شول چه هغوی له (چتر) څخه خوراك قبول کړی وو دا ډول خلك تر او سه هم په هغه ولایت کښی شته. ددی ډلی غړی یوازی په یو تار سره تړل شوی دی او هغه دا دی چه ددوی نیکونو فقط یو ځل له یوې آزادی او گډی اشپز خانی څخه ډوډۍ خوړلی وه .

لنډه دا چه ورناس په اصل کښی اجتماعی ډلی وی خو وروسته په طبقاتو وویشلی شری او د کار تقسیم ورته دوام ورکړ . طبقاتی مفکوری چه په جامعی کښی تینگ بیخ ونیو د یوی ډلی خلکو بیل خواص به ددی سبب شول چه هغه ډله ځانله بیله طبقه جوړه کړی .

(۱) Untouchable Caste

په‌موجوده حال کښې نژدې (٤٠٠٠) اساسي طبقې په‌هند کښې شته‌چه هره‌یوه یې به اجتماع کښې ځانله‌ځای لري .

له چوړیانو سره‌اوس هم د پورته څلوړو ورناسو دغړو دپاره امتزاج کسر شان دی همدارازبورتنی چوړیان دا ځان سپکوی بولی چه دښکته طبقاتو له چوړیانو سره نژدی تماس ولري . لوی طبقات دخپل لوړ والی دپاره تل مبارزی کوی .

د دی طبقاتی سیستم لوی پرنسیپ دادی چه‌دیوی طبقی نارینه دی بایدله‌خپلی طبقی څخه ښځه کوی .

بل‌مهم پرنسیپ بیادادی چه دیوی طبقی غړی ته نه ښائی د ښکته طبقی له لاسه خواړه ومنی. دعمل په ساحه کښې ددې پرنسیپونو معنی داده‌چه دبیلو بیلو طبقاتو غړی سره ودونه‌نه شی کولی‌او په یوه میز باندی دډو ډۍ خوړلو د پاره نه‌شی غونډیدای .

برسیره پردې هره‌طبقه ځانله خاص دودونه او تعصبونه لری‌او که کوم غړی یې پروا ونه کړی او نقض یې کړی هغه ته‌سزا ورکوله کیږی سزا معمولاً له طبقی څخه اخراج او یاله متخالف سره طبقاتی مقاطعه ده .

هغه‌مفکوروی تارونه چه دطبقاتی سیستم په‌شااو خواتاو شوی دی‌ټول‌دهند ویزم مذهبی رنګونه لری . سره له دی هم‌ډیر هندی مسلمانان اوعیسویان ددی سیستم تراثر لاندی راغلی کاڅه هم اسلام او عیسویت خپلو مریدانو ته دمساوات ناري وهی .

طبقات‌او اجتماعی غیر مساوات

دطبقاتو د منځ ته‌راتلواو په‌هغو کښې عضویت په‌اجتماع کښې په صحیح اودقیق ډول دهر غړی مقام‌تاکی برهمن به دعاوی کوی اودوبی به کالی‌وینځی خودا ددی معنی نه‌لری چه‌برهمن‌به‌یوازی‌په درمسال اودوبی به‌دسیندپه‌غاړه‌لیدل کیږی .

احصایی ښئی‌چه‌داوترا پردیش په‌ولایت کښې په‌سلو کښې ٥٥ کسان کسبګر دوبیان او له‌چمریانو څخه په سلو کښې ٥١ کسان چرمګران‌دی‌سر له‌دی‌هم‌دا به‌غلطه وی که داسی فکر وشی چه دیوه کس د طبقاتی عضویت اودهغه د اجتماعی موقف ترمنځ به کومه رابطه نه وی .

د١٩٥١ کال احصایی راښکاره کړه چه دلویدیځ بنګال په کلو کښې چه کوم چوړیان هستو ګنه‌لری په‌سلو کښې ٩٩ کسان

بیوزلی اوز بیښلی اطرافی کارګران او نیمه کارګران دی په عین حال کښی په سلو کښی له ۶۰ څخه تر ۹۰ پوری دلوړ وطبقو اعضا زمینداران او یا شتمن مستاجر بذګران دی په نورو هندی ولایتو کښی هم تقریباً همدغه حال دی .

نو بایه وویل شی چه دهند په اقتصادی چوکاټ کښی د ننه چه تر اوسه هم فیوډالی مناسبات موجود دی طبقاتی سیستم په طبیعت او ماهیت خپل کښی ګرد سره اجتماعی دی. دهغی نری طبقی په باب کښی چه عمیقاً په کاپټلستی انکشاف پوری اړه لری پورته حال لږ څه تو پیر لری په اطراف کښی طبقاتی سیستم زیات تاثیر لری کسبګران، کلالان دوبیان، چرمګران ډمان او داسی نور طبعاً په چوړیانو کښی راځی کومی چاری چه دوی یی کوی ډیره کمه اجوره لری او ددوی نور ژوند له دی امله خراب او ابتر دی چه دوی ښکته ز بیښل شو وطبقو ته منسوب دی

په دا بله ښاری خوا کښی بیا لوی فابریکه داران او سرمایه داران دی په دوی کښی دراجستان د سودخورو طبقاتو، د ګجرات د تجارو طبقاتو او د زردشتی ټولنی نمایندګان شامل دی

په فیوډالی هند کښی دی ډلی خلکو دربار ته شیان ورتهیه کول او اشرافو ته یی پیسی په پور ورکولی او په دی ډول یی د ځان د پاره اقتصادی امتیازات ترلاس کول .

وروسته پسی بیا دوی له انګریزی سوداګرو سره اتحاد وکړ ددی ټولو نتیجه دا شوه چه دهند زیاتی پیسی ددوی په لاس شی او په فابریکو بانکو او شرکتور کښی یی بندی کړی .

برلا، دالمیا، بانګرو، کنوری او دراجستان نوری کورنی چه جمعاً د مرواری په نامه یادیږی د جوتو، سیمنټو، بوری، او نورو کارخانو څښتنی دی دوی بیا ځانله د سرمایه دارانو طبقه جوړوی او یو تر بله په راجستانی خاصه لهجی ګړیږی خو دا لهجه ددی سبب نه ده شوی چه طبقاتی بندیزو ته یی جوړ کړی او د مرواری طبقه یی د جامعی له نورو طبقو نه بیله کړی ده مانع او ممیز یوازی پیسی دی او بس.

په لویدیځ هند کښی پارسی سرمایه داران چه بمبیی یی مرکز دی هم مرواری کورنی ته ورته حال لری دوی په دین کښی زردشتیان او آتش پرستان دی ددوی د معبدونو په وره باندی معمولا داسی علامه وی چه «یوازی د پارسیانو د پاره» پارسی

کیدل پخپل ځان کښې یو امتیاز دی د نادارو کورنیو پارسی ځوانان د نورو شتمنو کورنیو په لګښت ښوونځیو ته استول کیږی او چه کامیاب شول او مدرسونه ووتل بیا په هغو کارخانو او فابریکو کښې کاتبان کیږی چه پارسی انحصارچی- ټاټا پوری اړه لری.

که څه هم دهند په اوسنۍ جامعه کښې طبقاتی او اجتماعی بندیزونه سره ټکرنه خوری خو طبقاتی سیستم شتمنو کورنیو ته ددی موقع ورکوی چه خپل اقتصادي موقف نور هم پسی ټینګ کړی، او نا داره نور هم پسی نا داره کړی.

طبقات او سیاسیات

زړی کیسی وائي چه لومړنی برهمن درب النوع له سر، شتریا د هغه له لاسو وشیایی له نسه او سودرایی له لینګیو څخه راوتی دی. او تر هغو چه دمځکی په سر بنیاد مان وي نو دغیر مساوات مقدس سیستم به هم رواج لری. ددی راز تلقی یوه طبیعی نتیجه داده چه ارتجاعیو نو له هغی څخه دځان دپاره استفاده کړی ځکه چه هغه داجتماعی اصلاحاتو په مقابل کښې خنډونه پیدا کوی.

داستعماری رجیم په دوران کښې یوه برتانوی زده کوونکی به پوره ډاډ وویل چه زمینداران په ټینګه دطبقاتی سیستم په خوادي ځکه چه دا سیستم د انقلابی عمل په لار کښې پوره خنډ کیدای شی. داستعمارچیانو چه څه دلاسه کیدل طبقاتی احساسات یی قوي او زیات کړل. داطرز ددوی په ګټه هم و ځکه چه ددوی د «تجزیه کړه او حکومت وکړه» له سیاست سره یی پوره سر خوړ.

د ۱۹۵۷ کال له پارلمانی انتخاباتو څخه داښه څرګندیداي شی چه ارتجاعی سیاسی ډلی له دی سیستم ځنی پوره ګټه اخلی او خپل مقاصد پرې په مخ بیائی. دجان سنګ شوونیستی او ښی لاس سوشلستی ګوندونو هم داسی کاندیدان دځان دپاره انتخاب کړل چه هغوي د طبقاتی سیستم له مخی په معینو انتخابی حوضو کښې زیات نفوذ لاره.

دځینو احزابو دپاره داسیستم خنډوی ځکه چه دخلکو سیاسی شعور نه راویښوی او هندی ولس په تعصباتو کښې د ننه ساتی. اودا بیځایه خبره نه ده چه ځینو هندی مطبوعاتو په زعرده سره ویلی دی چه طبقاتی سیستم په هند کښې هغه نهنګ دی چه هر وخت کولای شی دډموکراسی کښتۍ ډوبه کړی.

اوسنی هند اقتصادی پراخ پلانونه عملی
کوی او دولسی ذهنیت در وزنی دپاره
زیار باسی. هغه درزچه مترقی قواوې او
ارتجاعی عنعنه سره بیلوی دژوندانه په
هراړخ کښی وار په وار ښکاره کیږی
او لوئیږی. طبقاتی سیستم ارتجاع ته
کټه رسوی. ولسی ابتکار وژنی جامعه په
زرګونو بیلو بیلو ډلو ویشی ایالتی تعصب
زیاتوی او خلك له دی څخه منع کوی
چه په اجتماع کښی خپل رول و لوبوې
لنډه بی داچه داسیستم هندته دیوه درانده
بار په څیر دی چه په اوږ ویی باردی.

سره له خپله ټینګاره طبقاتی سیستم
بیاهم نه شی کولی دنوی تخنیك، نوی کلچر
او نوو اجتماعی مناسباتو مخه ونیسی
یووارد جرمنی یومشهور جورنالست. شمیت
هندته لاړ اودجنوب غربی سیمو په ګرزید
لویی پیل وکړ. داپیښه دتیری پیړی په
وروستیو کلو کښی وه ده ولیکل چه دده
ګاډی وان یوه ورځ وغوښتل چه له یوی
ښځی څخه چه دچوړیانو په ډله کښی وه
څه واښه په بیه واخلی ښځی واښه په مځکه
واچول اوخپله دولس دیارلس ګامه
وروسته شوه په بیی سره موافقه راغله او
ګاډی وان پیسو شمیرلو ته شروع وکړه
دواړه یوڅه نارامه غوندی شول خو په
ستر ګو کښی یو بل سره پوه کړل چه ګاډی وان
به پیسی په مځکه غورزوی اوښځه به یی
پورته کوی شمت وائی چه دواړه له دی
بیریدل چه ګاډی وان به کومی لوړی
طبقی ته منسوب وی او نه چه دښځی تماس
دواړو ته زیان ور سوی قسمت داسی پیښه
کړه چه شپیته کاله وروسته زه پخپله
دکرالا ولایت ته لاړم زما موټروان
دنایار طبقی ته منسوب ونایار هغه طبقه
وه چه د دوی په اصطلاح ورته پاکه
او درنه ویل کیده موټروان زما دمخی
له یوه داسی سړی نه کوکونټ واخیسته
چه هغه په چوړیانو کښی خسا بیده همدا
راز یوه بل ته یی سکرټ ور کړه او په
شایی هم وډ باوه ما ورته دشمت قصه یاده
کړه هغه سرو خو ځاوه او وې ویل چه
رښتیا ده او دایی پسی زیاته کړه چه
یوڅو کاله ړومبی څه وخت چه د تراوان
کور) مهاراجه له خپل قصر نه بیرون
وته چوړیان به دده له مخی شړل کیدل

او دا ددی دپاره چه د هغوی ستر گی
پرې و نه لگیږی ،

خواوس؟ په ټولو کښی برهمن ددی
عادت ټینگ طرفداران دی خو داهم
درسته ده چه یوازی یو څو خلك به وی
چه له بلی طبقی سره واده کول روا گڼی

سره له دی هم دا به درسته نه وی چه
وویل شی طبقاتی سیستم ټینگ په پښو
ولاړ دی نه ، پښی یی په ریږدیدو دی
اومخ په چپه کیدو ښکاری له څه وخت
نه چه هند آزاد شوی دی داسی قوانین
یی منځ ته را ایستلی دی چه ددی سیستم
ناوړې خو اوی یی گرد سره منسوخی
کړی دی اساسی قانون دطبقاتو ترمنځ
تبعیضات لغو کړی دی ددی سیستم په
مقابل کښی په ۱۹۵۰ کښی یوه رسمی مبارزه
شروع شوی او لاپسی روانه ده په اوله
مرحله کښی دروزنی په باب کښی یو
څه محدودیتونه وضع شول خو یو کال
وروسته عمومی شوه او کانگرس داسی
قانون وایست چه که یې چامخالفت وکړ
اونوریی له عمومی ځایو لکه هوټلو
شفاخانو او داسی نوروځایو څخه (منع)

کړل هغوی ته به سخته سزاور کوله کیږی
که څه هم داسی سخت قوانین رواتی
دی خو په وروسته پاتی اطرافی سیمو کښی
تر اوسه هم په عمل کښی فرق نه دی
راغلی زمینداران تر اوسه هم له خپلو
هغو دهقانانو څخه خواړه اواوبه نه منی
کوم چه چوړیان وی او ښکته طبقاتو
پورې اړه ولری وروستی هم دی کار ته
زړه نه کوی اوډاریږی چه که داسی
کار ترې وشو نو بادار به یی ترې
دخپل پور غوښتنه وکړی یا به یی جریمه
کړی او یا به یی له دهقانی نه وباسی
اوعمومی حمایه او قانونی لاربه ده ته
څه فایده ونه رسوی .

دهندی ولس څخه په سلو کښی نژدی
(۸۵) تنه اطرافی بز گردی مترقی کسان
عقیده لری چه تر هغو فیوډالزم (ملوك
الطوایفی) له هندنه کډه نه وی کړی
داسیستم به وی او په هندی ولسونو،
ددوی کلچر اوددوی په اقتصادی پر
مختگ به زیات اثر لری

(پای)

ښاغلی غ. غوث خیبری

سوچه پڼې

شپه چه به نیمه شوه نو غوټی به ناڅاپه چیغی کړی د کټه به لاندی پریوته او به ژړا کښی به یی دژبی لاندی څه ویلی خوزه به پری نه پوهیدلم ...

میاشت نیمه دا کار روان و نه پوهیدم څه چل و کړم غوټی غریبی باندی به می هم زړه سولو او خپله به می هم ځانته قهر را نه چه دومره موده وشوه غوټی به دی مرض اخته ده هیڅ دارو درمل دی ور له و نکړه .....

نه پوهیږم څو ومه شپه وه خو همدومره می په یاد دی چه دا توار شپه وه په هغه شپه راسره دا سوچ پیدا شو چه راشه غوټی چا ته وښیه تعویذ ورته و کړه او یا یی په زیارتونو شهیدانو و گرزوه که خدایی پری مهربانه شی.

هغه شپه دهمدی فکر ونو سره کټ ته وختلم بړستن می د ځانه لیری کړه یوازی می خپل خړ څادر په ځان وا چاوه بیا می په کراره چراغ لاس کښی و نیو او دغوټی مخ ته می نژدی کړ ... ..

غوټی په خوب ډوبه پرته وه په کوڅیو کښی یې یو سور شانتی مړاوی گل ټومبلی پروت و په بڼو یی لاد کوڅو دوړی او گردونه پراته وو او تنگه سینه یې د سوری او شلیدلی تټر نه ښکاریده ... دچراغ سره بخنه رڼا دغوټی په سپین مخ بې واره لړزیده ښکته پورته کیدله او کله کله به یی پاس چت ته مخه کړه او هلته به وتښتیده ...

کوم ساعت چه ما دچراغ په رڼا کښی دماشومی غوټی مخ ته کتل بی اختیاره می دهغی مرحومه مور په نظر کښی شوه ستر گومی نوره غوټی نه لیده بلکه هغه څوک چه می څنگ کښی پرته وه هغه..... هغه.....

اوف. څه ویلی نه شم ... : زړو خاطرو دفتر نشم سپړلی په هغه کښی ټول غمو نه پراته دی هغه دفتر ټول ددر دونو سوزناکو چیغو فریادونو نه ډک دی

کله چه دغوټی مور مړه شوه نو ما هم هغه ټول یادگارونه او نښی له هغی سره یو ځای دتورو خاورو لاندی ښخی کړی په منونو او خروارونو خاوری می پری واړولی .

نه پوهیږم چه څومره ساعت می هغه چراغ دغوټی مخ ته نیولی وخو چه کله می فکر په ځای شو چراغ پړه کیده او پلته یې خلاصیدو ته نزدی شوی وه .

لږه لږه شپه نیمائی ته ورسیده دسپوغپا کوڅی په سرواخستی به دی وخت کښی په ماهم خوب غلبه و کړه او باڼه می درا نه

شول په کراره می لاس دغوټی په سر کیښود
اوخوب یوړم نه په هیڅ داخوب وشمیرم
که پریښانی ځکه دستر گو پټیدو سره می
لیدل چه دغوټی مورراسره ناسته ده او په
خنداخندا کښی راته وائی :

دغوټی پلاره تا ته دی یاد وی چه سکینه
به په دی منی کښی له خیره راولو نوره جوړه
ټوله پوره ده خوسوچه پڼی یې لاتر او سه
ورته ندی راوړی

دادری جمعی وشوی او (رحمان)
لامعلوم نه دی .....

ما به ورته په مینه ویل ،

یره خو دارانه سهوه و شوه چه خپله
یی نللی وای نواوس به می وخته راوړی
و ه هلك دی بیا به چیر ته .....

ادلته پوه شوم چه دغوټی مور او چولی
تریو کړ په هغی ځوی ډیر گران و. نیمه
خبره به پری بده لگیده نوچپ شوم...

زه لا په خوب کښی دغوټی له مورسره
په خبرو او مرکه بوخت وم چه نا څاپه
بیاد غوټی کړیکه شوه او دکړیکی سره
را پاڅیدم او هغه می په غیږ کښی ونیوله

غوټی دلیونی په شان گوته در وازی
ته نیولی وه دونی به شان رپیده غاښونو
یې کړکاوه اوخولی یې په تندی روانی
وې ...

په غیږ کښی می نیولی وه نو دپخوا
په شان می ورته وویل :

غوټی بچی غوټی زه یم ...ولی لوری
ته خو ماته وو ایه کنه ته خود پلار نه
خبره نه پټوی لوری غوټی سړی خو پلار ته
دمطلب ټکی وائی کنه ولی کوم ځای
دې درد کوی نوری شپی به می هم غوټی
ته داسی خبرې او نصیحتونه کول خو هغی
به څه نه ویل دا کرت یی په دې شپه دامړی
ځل دپاره دخولی نه یوه خبره وایسته
او هغه یوه خبره سو چه پڼی وی زه په
اول کښی په دی خبرې چندن ونه رسیدم
ماویل فکر کښی به یی سوچه پڼی راغلی
وی چه شپه تیره شوه غوټی په ژیړ رنگ
دخوب نه را پاڅیده دبیگاه شپی دچیغو
پو ښتنه می تری وکړه خو هغی ته څه
یاد نه و.

دبهرونلو سره سم راته دافکر پیدا شو
چه لاړشه او دغوټی غم وخوره خلك که
خبرشی نودر پورې خاندې به دلته خود
خلکو په هرڅه کښی کارشته .

نیمائی لاره چه می و و هله ځلمی په
مخه راغی او ددی پریشانی تپوس یی رانه
وکړ څه چه وورته می وویل ... (ځلمی)
غلی شا نته شو فکر یوړ بیا یې بـه کراره
رانه پوښتنه وکړه چه دسوچه پڼو حقیقت
ماته ووایه ... زه به لارژر پیدا کړم نوزه
مجبور شوم او ورته می کیسه وکـړه:
سکینه دانور ملك لور مونږ ځلمی
ځوی (رحمان) ته وده وله په ټول کـوز
مالت کښی درحمان دواده اوازه وه هر
څه تیارو ویوازې سوچه پڼی کمبو د وې
رحمان وویل با بازه به لاړشم او په یو دوه
ورځو کښی به هغه راوړم مور یی هم خو ښه
ور کړه او رحمان لاړ ددوه دری ور ځو
په ځای هفتی ووتی او درحمان پته معلومه
نه شوه میاشت پس وماته خبر راغی چه
اوف ځلمیه!.. تارا باندی هغه څه وویل
چه زه یی تر مرګه پوری ویلو ته حاضر
نه وم خیر قسمت به داوه... خبر راغی
چه رحمان ښکته څو ډاکه مار و او غلو
مړ کړې .. دلته ځلمی ځما په خبری کښی
راو لوید او پوښتنه یې وکړه:

ښه نو اسلم کاکا تا څه وکړل
ماورته وویل: داخبره مادهر چا نه پټه
کړه ځکه درحمان مور نا جوړه وه او
که داخبره یې غوږ ته رسیدلی وای نو ته
پوهیږی چه څه به شـوی وای.
ځلمی بیا پوښتنه وکړه:
اسلم کاکا څومره موده داخبر درحمان
دمور نه پټه وه ؟ماورته وویـل:
ـ هغه غریبه خومرګی پری نښو ده
چه خبره شی درحمان دتللو نه دری جمعی
پس مړه شوه . . .
ځلمی سر راپور ته کړ او وی ویل :
اسلم کاکا دسوچه پڼو دخبرې..
یعنی درحمان دمرګ نه غوټی څنګه
خبره شوه ماورته ځواب وکړو :
ـ غوټی ماسره ناسته وه چه هغه سړی
درحمان مړینی احوال راوړاو دی خبری
په غوټی دومره اثرو کړ چه په یوه چیغه
بی خوده پر یو تله.
ځلمی موسکی شو واو ماسره کـوز ته
روان شو چه دغوټی علاج وکړې.

پای

د نړۍ دالفبایی ایکونومور اوفنیقیان

مؤرخین د «هکسوس» اسرار آمیز قوم (۲) ته‌چه‌یی په‌شپار سمه ق.م پیړۍ کښی په مصر یرغل و کړ گوته نیسی او وایی چه‌ښایی‌همدغه فنیقیان (یااعراب) و و.

اما وروسته له هغه چه فرعون لومړی احمص (داتلسم لړلومړنی پاچا ۱۵۷۰ - ۱۵۸۰ ق.م) دفنیقی په‌سیمه یرغل کوی فنیقیان یی‌له کوم شك‌نه دتاریخ د گر کښی‌را څر گند یږی.

وروسته له‌دغه تاریخ نه دوی د مصر تر لاس لاندی کیږی. خوډیر خلك یی دځان دآزادولودپاره هڅه کوی، تر څو چه‌دایخاتون دپاچایی (۱۳۵۰- ۱۳۷۰) څخه‌د مصریانوقدرت و رباندې کمیږی. مگردوهم‌رامسس دنولسم لړڅلورم پاچا ۱۲۲۰- ۱۲۹۲ ق.م) فنیقیه دسره نیسی اوپه‌بیروت ور ننوزی (۳).

ددریم‌رامسس په‌وخت کښی فنیقیان بیاد خارجی اقوامودیرغل څخه‌استفاده کوی اوځانونه دمصرله نظارت نه‌باسی. وروسته له‌دی ترهغو پوری خپل واکی اوسی ترڅو چه‌آسوریان راځی او دغه مځکه نیسی. (۸۷۶ ق م) (٤)

دفنیقیی رښتینی تاریخ دسوداگری اوهغو ودانیو تاریخ دی چه‌یې بنا کړې دی اوموږ غه‌تاریخ په‌درو دورو ویشلی شو: د صبدا دوره، د صور دوره اود کارتاژ دوره‌چه دلته‌یی د تفصیل څخه تریږو (٥) یوازې دومره وایوچه ددوی دسوداگری قدرت وروسته د «کرت» دقوم د لویدلو څخه شروع کیږی. پدې تفصیل چه له یوې خوا ددوی خپلواکی اود «کرت» دقرم دبحری قدرت مخ په ځوړ تگ په یوه مهال (دولسمه ق.م پیړۍ) کښی‌اوله بلی خوا څر نگه چه دمخه‌وویل‌شودفنیقیانو تاتوبی‌دمډیټرانی دسیندپه ختیځه سیمه کښی‌ؤ او د سمندر دیون وسائل یی دمخه لاتیار کړی‌وو. نوبی له دې موقع څخه استفاده‌وکړه‌او

(۲) دهکسوس قوم‌هغه یرغلگر کوچیان وو چه دآسیانه راغلل او دلرغونی مصر دولت یی له میڅه یووړ. (تاریخ ملل شرق ویونان مخ۲۹)

(۳) البر ماله دده د پاچاهی نیټه له ۱۲۳٤ - ۱۳۰۰ ښی (تاریخ ملل شرق ویونان مخ۳٥)

(٤) دعلم تاریخ.او دزیات معلومات دپاره وگوری تاریخ ملل‌شرق‌ویونان له۲۸مخ‌نه‌هاخوا.

(٥) دمفصل معلومات دپاره و گوری تاریخ ملل‌شرق ویونان له ۱۱٦ مخ‌نه هاخوا.

ډېر ژرېې د« کرت» د قوم ځای ونیوو او ځانونه یې دمډ یټرانی دسودا گرۍ مشران کړل .

پدې وخت کښې یونانیان هم دسمندر په یون او سودا گرۍ کښې ددېر ستر قدرت خاوندان وو، همداوو چه دغه دوه نومیالی قومونه یودبل رقیبان شول او او فنیقیانو هم د سودا گرۍ دهډو او مراکزو په ودانولو گوتې بورې کړې . پدې لړ کښې دوی هغه ودانۍ ودانې کړې چه مو دمخه گوته ورته ونیوله او په تولو کښې یې دسودا گرۍ ډېر ستر مرکز دصور ښارؤ چه یې دستروالی او اهمیت یا دونه اوس هم په تورات کښې لیدل کیږی.

دصور خلکو په قبرس او دوس تاسوس کوترا، کورفو، گوزو، پانتلر یا تونس ساروني اونورو ځایونو کښې بیا د ځان د پاره دسودا گرۍ ځایونه جوړ کړل .

دفنیقیانو رقابت چه مودمخه گوته ورته ونیوله د خپلو غربی رقیبانو سره تر هغو پورې روان ؤ تر څوچه وروسته دپونیك له جگړو (۱٤٦- ۲٦٤ ق.م) یعنی هغوجگړو نه چه دروم او کارتاژ ترمینځ وشوې غربی قدرت ماته وکړه او په شاشو . (۱)

اما کله که دغه قوم د سودا گرۍ داهمیت ترڅنگه خپله دبحث موضوع هم په نظر کښې ونیسو هلته بیا ډېر داهمیت وړښار د گوبل (گوبله) ښار دی چه یونانیانو دبوبلس «بیبلیس» په نامه یاد کړی دی. یعنی برسیره پردې چه نومړی ښار دیونان اومصر ترمینځه دسودا گرۍ یو مهم مرکزؤ دفنیقیانو ډېر زوړ لیك هم هم په همدی ښار کښې پیدا شوی دی.

داسې چه په ۱۹۲۳ م کښې فرانسویانو په ننني سوریه کښې یو لړ پلټنې وکړی او بدغې تاریخی سیمه کښې یې ډېر مهم اثار وموندل. لکه داخیرم پاچا تابوت چه دنومړی ښار «گوبله» څخه پیدا او فنیقی لیك وربانديې کښل شوی دی .

دالیك د فنیقی لیك د ډېر لرغونی لیك نښه ده چه فرانسوی پوهان یې ددیر لسمی ق.م پیړۍ گڼی او دنیټی د ټاکلو دلیل یې هم دادی چه ددغه قبرنه یولړ لوښی پیدا شوی دی او پدغو لوښو باندې ددوهم رامسس (۱۲۲۵- ۱۲۹۲) نوم لیکل شوی دی .

(۱) دعلم تاریخ .

ځینې المانی پوهان نو موږ ی تابوت او کتیبه دیولسمی او دولسمی ق.م پیړۍ کښې او وایی چه دا لیك په همدې وخت کښې لیکل شوی دی .

دغه ډول په « کوبله » کښې یوه « نیمه تنه » پیدا شوې ده چه داخیرم دتابوب په بڼه لیك ورباندې لیکل شوی دی او استاد دوسود یې ددیارلسمی ق.م پیړۍ بولی .

دمخه د اخیرم دتابوت دپیدا کیدلو نه ډیر لرغونی اثرچه د « کوبله » دښار نه په گوتو راغلی و هغه دمشیع دمواب د پاچا کتیبه و ه .

برسیره پردې د کوبله ښار یو د ینی مرکز هم وچه د (ادونی) دلمانځنې د ین هم له همدې ځایه نورو گاونډیو هیواد ونو ته تللی دی .

څرنگه چه یونانیانو خپل د لیکنې لوازم له همدې ښار څخه په لاس راوړل او مصری پاپروس به دهمدې بندر له لارې ته یونان ته لیږل کیده نو یې له همدې امله دبیبلیس نوم د کتاب په معنا غوره کړی دی .

دبا یبل یعنی توراة او انجیل او بیبلیوتك یعنی کتابخانې نومونه دا روپایه نمنیوژبو کښې دهمدې ښار د نامه نښې دی . (۱)

دفنیقیانو دسترو کارونو په لړ کښې یوبل ډیر ستر کار په سمندر کښې ډیر اوزده یونونه دی چه په کلو کلونو به سرته رسیده .

دغه ډول یونونه دوی اوزده یونونه بلل چه دوه یونونه یې ډیر معروف یونونه دی .

لومړی یون یې دشپږمی ق.م پیړۍ په شاو خوا کښې د « نحا ئو » دمصرد فرعون په امر شوی اونقل یې هردوت لیکلی دی . دی وایی چه یونیانان د بحرې احمر نه پاڅیدل اودد رې کلو نو په موده کښې دافریقانه راوګرځیدل دوم یون یې هانون دنوموړې لارې دمخالفت له مخې شروع کړ ده چه یولړ بیړۍ د کار تاژنه اخستې وی پدې وګمارل شو چه دا فریقا په غربی ساحل دجبل الطارق شانه راوګرځی اوهلته یوڅه ودانۍ هم جوړی کړی .

داسې ښکاری چه دی د کینې تر خلیج پورې تللی دی .(۲) نوموړی قوم دخپلې سودا ګرۍ اوما نوګرۍ دا لو ځلو په

(۱) فرهنگ ایران باستان- فنیقیان

(۲) تاریخ ملل شرق و یونامخ ۱۱۹

لر کښې دمستعمر و په نیو اوهم پیل و کړ
پدې کار کښې دومره بریالی شول چه یې
مستعمرې ترا سپانیا څه چه دد عی مخکو
تر ور و ستیو څنډ و ا و د هر کو لس
ترستنو پورې رسیدلی. (۱) دفنیقی په تو او
ښارونو کښې داشرافوچه دد غه ملك ترتولو نه
شتمنی کورنۍ دهمدوی کورنۍ وې او
وګړیو ترمینځ لکه مانوګان، سپایان
مزدوران، کرګران او آزاداو نیستمن
خلك ډیرې کلکې مبارزې روانې وې

ځکه چیرته چه صنعتی او تجارتی ښارؤ
هلته دغه طبقاتی جګړې طبعی وې (۲)

لنډه داچه که د فنیقیانو د ګاونډیانو
قومونو خبرې و منو نو باید و وایو
چه فنیقیانو البته لوړې طبقې، ته د درستی
امانت اویت کلمو څه معنا نه لرله او
ددوی د ګروهې سردسم ور و ستنی بر عه
دکه کښر زه وه او بس. خو سره له دې
یې هم د بشر را تلو نکی نسل ته ډیر ستر
خدمت کړی دی چه هغه دا الفبا
اختراع ده. (۳) اودا دی د لته په مفصل
ډول سره وربا ندی غږیږم.

(۱) دعلم تاریخ
(۲) تاریخ ملل شرق ویونان مخ ۱۱٦
(۳) داستان بشر مخ ٤٨

فنیقی الفبا

څرنګه چه فنیقیان پخپل وخت کښې ډیر
ستر سوداګران او دخپلې ورکړې راکړې
دسمون ـ پاره ترهر څه نه د کمون او لیکنې
دپاره ډیر زیات اړ وو. نو یې حساب
اولیك دواړه دمصریانو او کلدانیانو
نه زده کړه. (۱) خو سره له دې هم څرنګه
چه دپخوانیو لیکو نو مثلا د میخی لیك
دنیو کښلو ډیرزیات وخت نیوه او دوی
په ورکړه راکړه بخت او عملی خلك وو
او دایې نه شوه منلی چه دې ددوو یادرو
تجارتی لیکونو په لیکلو په خپلو باندې
دژوندا نه خو څوګړی نیرې کړی
او دو خت نیر ول یې هم حرام ګڼل
همداؤ چه دچاری په فکر کښې شو او یو
داسی لیك یې اختراع کړ چه تر ارغونی
لیك نه په څوخو کرنه ښه او اسانه ؤ (۲)

دا لیك همدغه فنیقی الفبا یې لیك
اودنړۍ دالفبا یې لیکو نو مور وه، چه
دادی وربا ندی خبرې کو و.

مګر به دې برخه کښې زه دا ښه ګڼم
چه دمخه د دغی الفبا د څرنګوالی نه
دنوموړې الفبا د پیدا ینښت او تاریخی
څرنګوالی په برخه کښې خبرې وکړم.

(۱) تاریخ ملل شرق ویونان
(۲) داستان بشر مخ ٤٨

سره له دې چه په سوريه کښې د «اخيرم» د کتيبې نه چه د مخه پرې وغزيدم پخواهم ځينې اثار پيدا شوي دي مګر دا اثار واړه په ميخي او هيروغليف ليک ليکل شوي دي مثلاً په ۱۹۲۹ کښې «شفر» بوه کنډواله په اوګريت کښې د بيروت نه يو سل وپنځه پنځوس ميله د شمال خوا نه پيدا کړې د چه لرغو نوالي يې ترميلاد نه دوه زره کاله پخوا نه رسيږي.

پدې کنډواله کښې يو اسر تختې چه په مصري او ميخي ليک کښل شوي پيدا شوې دی. اما کوم ليک چه فنيقي لرغو نی ليک ګڼل کيږي هغه همدغه د اخيرم تابوت دی چه د ګوبله په ښار کښې پيدا شوی دی. دې تابوت موږ نه د فنيقي الفبا د پيدا ينښت نښه ځه نه ځه راخر ګند کړی ده او داو بلای شو چه که د غه ليک په څور لسمه پېړۍ کښې لا نه ؤ پيدا نو په دېار لسمه پېړۍ کښې اختراع شوی دی که نه وی نو پيدا ينښت يې له ميلاد نه پخوا د دولسمې او د يا ر لسمې پېړۍ ترمينځه دی (۱) مګر سره له دې هم ځينې پوهان د آسيا يې الفبا اختراع د (۱۰۰۰) او ۱۵۰۰ ق م) ترمينځه بولي او وايي چه که فنيقي الفبا لومړنۍ الفبا نه وی نو هغه الفبا خو ده چه په نورو باندې غښتلی شوې او ديو لسمې پېړۍ په پای کښې سره خپره شوې او بيا ورو سته د ډېرز يات بدلون نه د نړۍ د نښيو الفبا ګانو په خير ترموږ پورې رارسيدلې ده. (۱)

د دې خبرې د پاره چه تر څو رلسمې پېړۍ پورې الفبا يې توري لا نه وو رواج شوې يو بل دليل دادی چه د فنيقي د څنډې او د سوريې او فلسطين د ښار ونو نه پيدا شوې اثار واړه په بابلي ژبه او ليک دی. يعنې نه يوازې د فنيقيا نو د پا چا ښا نو ليکنې د مصر فرعونانو نه بلکه د دوی پخپل مينځ کښې ليکنې هم په همدې ليک اوژبه دی نو له دې امله ويلای شو چه تر څو رلسمې پېړۍ پورې په سوريه کښې لا الفبا يې توري نه وو جوړ شوې او که شوې وو نو دومره بيا رواج شوې نه وو چه دې دوی د پېر دې ليک نه بې نيازه کړي. (۲)

دلته ګمان کوم چه لومړۍ خبره د دومره پخه نه بريښي ځکه د پښتو ژبې کوم لومړنۍ تحريري سند چه تر اوسه پورې زموږ ګونو نه راعلې هغه د وامې

(۱) فرهنګ ايران باستان

(۱) د علم تاريخ مخ ۱۱۵
(۲) فرهنګ ايران باستاني

پیړۍ دسردی مګر پښتانه دهغوعو املو له مخی چه دلته ور باندې غږیدل له موضوع نه لیری کیدل دی تراوسه هم لا ډیرې زیاتی لیکنی پخپل مینځ کښی په پښتو نه کوی .

ځینی پوهان بیا دفنیقی الفبا جوړ ښت ډیر راپدې خوا بولی او وایی چه د (۱۰۰۰ ق م) په شاوخوا کښی دلومړنی عملی الفبا بڼه سمه شوه او دیونان خلکو اولاتین قوم هم وروسته ورڅخه تقلیدو کړ . (۱)

خو سره له دې ټولو خبرو کومه خبره چه دتاریخی دلائلو له مخی ډیره قوی بریښی هغه داده چه نوموړی الفباد دیارلسمی قبل المیلاد پیړۍ په شاوخوا کښی پیداشوی او ډیر وزیاتو پوهانو دغه نیټه منلی ده .

دغه ډول دډیرو پخو دلائلو له مخی داویلای شو چه فنیقی لیک دلومړی ځل دپاره ګوبله په ښار کښی جوړ شوی دی (۲) مګر داچه ایا فنیقی لیک کوم ځانته جوړ شوی لیک دی او که دمصری او بابلی لیکونو څخه راوتلی دی یوه بله ژوره پوښتنه ده چه ځواب یی لږ څه غورغواړی.

(۱) تاریخ ملل شرق و یونانی مخ . ۱۲۵
(۲) فرهنگ ایران باستان

ځکه ځینی پوهان نوموړی لیک دسومری او مصری لیک یوه اصلاح شوی بڼه بولی او وایی :

فنیقیانو دمصر او کلده دلیکونو نه دوه ویشت نښی غوره کړی او په همدی ترتیب یی پخوانی ګران دوداسانه او ساده کړ . ښایی دوی دغه دوه ویشت نښی دمصر دوروستی لیک له مخی چه دهیرو غلیف وروستنی شکل ؤ کښلې وی.(۱)

یا داچه وایی :

فنیقیانو د مصری لیک یو څه څیری واخستی او یو څه دسومریانو میخ ته ورته نښې یې هم ښی ساده کړی او دهغو څخه یی په ګډه سره دځان دپاره الفبایی لیک جوړ کړ . (۲)

اما حقیقت دادی چه د فنیقی لیک په برخه کښی پورته پوښتنه رته بېځایه ده ځکه دغه الفبا څرنګه چه په لرغونو اثارو کښی را رسیدلی ده داسې توری نه لری چه دی موږ ته مصری او یا بابلی اشکال را په زړه کړی . دغه ډول د نوموړی الفبا توری څه داسی توری نه دی چه دی په کوم شی دلالت وکړی او دکومی څیری یا دژوندانه دلوازمو نښه دی وی .

(۱) تاریخ ملل شرق مخ ۱۲۵
(۲) داستان بشر مخ (۴۸)

دالفبا له لومړی سر نه پخپله اصله بڼه لیکل شوی او هیڅ یو توری بی هم په ښکاره ډول سره د کوم شی رسم نه دی.

یا په بله ژبه دا توری داسی نښی نه دی لکه د میخی لیك چه له اره دسومر یا نو سره یو ډول اشکال وو او بیا و روسته په ورووروسره دغه اشکال ساده او د میخ په بڼه شول.

دغه الفبا له ښی خوا نه چپې ته لیکل کیږی او څرنګه چه د مخه وو ل شو دوه ویشت توری لری. (۱)

نو له دی امله پر نه د ځینو او ږدو غږیږو تورونه نور غږیږ توری هیڅ نه دی یکښی راغلی.

نو له دی امله پوهان وایی چه فنیقی الفبا یوه غیر مصوته الفبا وه او د یوه چوپ توری او اوږده (Vowels) د پاره لکه «واو» او «ي» به کار یدله. یعنی په دغې الفبا کښی یوازی «ت» د «ته، ته، تی، تو، تا، تی، تو» د پاره استعمالوله لکه د پښتو په پخوانی لیك دود کښی چه په وروسته بحثونو کښی به بی و ګوری او په ځینو برخو کښی بی اوس هم لا همدا حال دی. نو له دی امله پوهان فنیقی الفبا ته ګوته نیسی او وایی چه دغه ډول الفبا اوس هم په عبري او عربي کښی استعمالیږی.

فنیقی الفبا پدی اساس جوړه شوی ده چه توری باید غږ حتی المقدور داسی وښیی چه په لوستلو کښی یی څه اشتباه نه شی پیښه. کوم فنیقی لیکونکی چه یی د دی الفبا د تورو شمیر خپل اقل حد ته بنسټ ایښی دی هغوی پخپله ژبه ډیر ښه پوهیده او کوښښ ئی کړی دی چه د الفبا د تورو شمیر خپل خپل اقل حد ته ورسوی دوی پخپله الفبا کښی پدی فکر چه د لنډ «Vowels» په واسطه په ژبه کښی کومه اشتباه نه پیدا کیږی دا عرابو راوړل یو زاید کار ګڼلی او ورڅخه یی صرف نظر کړی دی (۱)

فنقیانو دخپلی الفبا هر توری د یوه شی یا څاروی د نامه د لومړنی غږ سره سم جوړ کړی او هم هغه نوم یی ور باندی ایښی دی. نو له همدی امله د الفبا کلمه هم وه فنیقی کلمه ده چه وروسته یو نانیانو هم په همدی اساس د الفبا په نامه یاده کړی ده. (۲) خو سره له دی هم له دغو توریونه د ځینو معنا په کنعانی ژبه کښی څرګنده ده او د ځینو معناوی هم د عربی او آرامی

(۱) فرهنګ ایران باستان

(۱) تاریخ علم مخ ۱۱۵

(۲) د ایران د ادبیاتو تاریخ مؤلف شفق. مخ ۱۳

لغاتو له مخی چه کنعانی ژبی نه ډیری نږدی ژبی دی څرګند ولای شو . مګر دځینو نورو توریو نو مونه یی د یوی لرغونی سامی ژبی د لغاتو سره هم جوړ نه راځی او په معنا یې نه شو بوهیدلای .

مثلا الف « Aleph » غویی (سنډا هم راغلی دی) بیت « Beth » (ب) کوته خونه ګمیل « Gimel » = « Camal » (ګ) اوښی ډلت « Daletk » (د) دړه . هه « He » (ه)؟ واو « Vav » (و) میوی ، میوږی . زین Zian (ز ؟ خت « Kheth » (خ) طت Teth (ط) ؟ یود « Iod » (ی) په عبری ژبه کښی Yad لاس ته وایی کاف « Kaf » (ك) اورغوی . لمد « Lamed » (ل) ، میم « Meam » (م) او به . نون « Nun » (ن) په ارامی ژبه کښی کب . سمڅ « Sametch » (س) د دیوال مخ سمڅه . عین « Ain » (ع) سترګه . په « Pe » (پ) خوله صاده Sade (ص) ؟ نولسم توری یی په هیڅ کومه قدیمه فنیقی او یا او سنۍ الفبا کښی نه دی لیدل شوی او تلفظ یی کوف Koph دی .

رش « Resh » (ر) یه ارامی ژبه کښی د سر په معنا . په فنیقی کې هم راش « Rash » شن په همدی معنا دی (ش) دغاښو په معنا اخستل شوی دی چه په عبری کښی په همدی معناده .

تو Tau (ټ) هغه ټپ دی چه په څاریویې دهغوی د پیژندلو او نښه کولو دپاره ږدی لکه داس . ورانه داغ او داسی نور .

دپورته توریو څخه دځینو توریو د معنا رود پیدا کولو دپاره چه په سامی ژبو کښی په بوه کښی هم نه پیدا کیږی ډول ډول اټکلی خبری مینځ ته راغلی دی . لکه داچه د « زین » توری په ارامی ژبه کښی درستی ته وایی . خو په پښتو او پاړسو او نورو زړو اریایی ژبو کښی د « زین » او « تبر زین » په کلمانو کښی ددغه توری بڼه او معنا دو رایه څرګنده ده .

دغه ډول به پښتو کښی « تو » د « ټپ » په بڼه « ډلت » د « ددړی » په بڼه « خټ » د « خت » په بڼه او « سمڅ » د « سمڅ » په بڼه ژوندۍ معمولی کلمې دی .

البته داچه ځینی کسان کوشش کوی چه هرو مرو دی دهر توری معنا په دغو ژبو کښی و مومی مطلب یی ددی خبری څرګندول دی چه فنیقی توری د اشیاوو د نامه په اساس د هغوی د بڼی سره سم جوړ شوی دی .

اما کله که سړی فنیقی تورونه چه دلته یی د لیکلو څخه طباعتی معذرت له مخی تیر بیزو په بڼه څیر سره وګوری دورایه پوهیږی چه د اتوری د اصل سره څه ورته والی هم نه لری .

پرته دلومړی توری څخه چه د غویی سرته ورته بریښی خو هغه هم هسی ښکرو غوندی یو شی دی اربس .

خوشال ختك

څو بهاره مې. بې میو معشوقو ځې
دا خو درای فلك څه چارې کا په ما هم

دنوروزمنت په باغ دی په صحراهم — نورانی بې شی له فیضه هغه داهم
چه په باغ کښې رنګارنګ ګلونه واشی — غنیمت ده د ګلونو تماشاهم
اخلخی دنو بهار په هر مشام ځی — ګلدستی بې خنډوې پیرو برناهم
د ګلونو هار په غاړه د دلبرو — شرموی لعل و یاقوت او لولالاهم
دمعشوقو په زلفینو کښې ځای وکا — ښایسته ګلونه پاس په اور بل لاهم
ارغوان که بنفشه کـ شقایق دی — زیبائی لرې بو ځای جدا جدا هم
په هر ګل په مخ باندی ټترمبزی بلبلی — بیا له شوقه په هوا کاندې نواهم
د هر ګل په مخ چه سر کښیږدی بلبله — پری غلطان غلطان راځی باد صباهم
په ګلزار پسی بلبله زړه کباب ده — په ارمان بې ځګرخون دی د میناهم
دقفس بلبله ژاړی ګریانی کا — چه به چیرې ګلګښت والوزو بیاهم
په هغو دماسلام مادې هم یاد کا — په ګلزار کښې چه نګارلرې صهباهم
څو بهاره مې بې میو معشوقو ځی — داخو درای فلك څه چارې کا په ماهم
ماوې ژربه څرخ دما په کام راوخوری — ولی ډیر تعطیل ئی وکړلا بیې کاهم
چه وخپلی کامرانی و ته ی شا کړه — غم اندوه د فلك نه لرم پرواهم
دسفله منت به هیڅ دانا وانخلی — چه خبر یې په خصلت شی په عطاهم
دمنت دارو که مرم په کار می نه دی — که علاج لره مې راشی مسیحاهم
دفرشتو امین منت دې په دعا کښې — لاجرم ورځنی پټه کړم دعاهم
د جهان غمونه واړه پکښې ځای شول — شکر دا چه زړه ئی لوی راکړ وماهم

که خوشحال دیار وصال په دنیا مومی
تمامی دنیا تری ځا زشه ما فیها هم

2 -AUG 18
COPY ____ 1959

KABUL

Monthly Journal of the

Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, philospohy,

philology, history, sociology, arts and related fields.

President of the Academy : Gul Pacha Ulfat

Editor : M. Hasan Kakar

Address : Pashto Academy,

: Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه